**د افغانستان اسلامي امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**غزني پوهنتون**

**ستراتیژیک پلان کمېټه**

# ستراتیژیک پلان

# (۱۴۰۳– ۱۴۰۷)ل.ل

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مطالبو لړلیک


| عنوانونه | مخونه |
| --- | --- |
| د غزني پوهنتون د رییس پیغام | ۱ |
| مفاهیم | ۳ |
| د ستراتیژیک پلان چوکاټ | ۶ |
| سریزه (کلیات) | ۸ |
| لرلید | ۱۸ |
| رسالت/ مأموریت | ۱۸ |
| ارزښتونه | ۱۸ |
| ستراتیژیکي موخې | ۱۹ |
| د لوړو زده کړو وزارت د لسګونو موخو لاندې د پوهنتون برنامې | ۲۰ |
| د چاپېریال د عواملو تحلیل | ۲۳ |
| د کورني چاپیریال د عواملو تحلیل | ۲۳ |
| د بهرني چاپیریال د عواملو تحلیل | ۲۷ |
| د کورني او بهرني چاپیریال د عواملو پرتله | ۳۱ |
| (IE) مېتود، د ستراتیژیک حالت مشخصول | ۳۱ |
| (SWOT) مېتود | ۳۳ |
| د پوهنتون د ستراتیژیانو ټاکل | ۳۷ |
| د (QSPM) پر بنسټ د ستراتیژیانو د لومړیتوب ټاکل | ۳۸ |
| د ستراتیژیک لومړیتوب ټاکل | ۴۴ |
| لنډمهاله موخې | ۴۷ |
| عملیاتي پلان | ۵۰ |
| بودجوي پلان | ۱۴۹ |
| د ستراتیژۍ تطبیق | ۱۵۲ |
| د ستراتیژیانو ترسراوی او ارزونه | ۱۵۷ |

# د غزني پوهنتون د رييس پيغام

## بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلاة والسلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين.

د زده کړه ييز سيستم ښه والی او پر بنسټ يې د نړۍ منلو معياري زده کړه ييزو او ځېړنيزو چوپړتياوو وړاندې کول، په پوهنتونونو/ لوړو زده کړو موسساتو کې د خلاقيت او نوښت وده، د فساد مخنيوی، د څېړنيزو چارو پراختيا او پرمختيا، په ظرفيت لوړونه باندې پانګونه او داسې نور د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د لومړنيو او بنسټيزو موخو څخه ګڼل کيږي. د يادو موخو تحقق د پياوړو، ژمنو او متخصصو بشري ځواکونو په برخه کې د هېواد پر ځان بسياينې سره بشپړه مرسته کوي؛ هغه څه چې له ځان سره د اقتصادي او علمي پرمختګ الهامونه لري. ټولنې د سوکالۍ پر لور خوځوي، اضطرابونو ته د پای ټکی ږدي، له نړۍ سره د واقعي سيالۍ کولو لپاره مو برابروي او بالآخره دا هر څه د کړېدلو افغانانو د کړاوونو د کموالي او ښې راتلونکې په لور خوځښت لپاره اړين دي.

غزني پوهنتون د يو ارزښت لرونکي زده کړه ييز بنسټ په توګه تر خپلې وسې پوره هلې ځلې کوي چې په دې برخه کې خپله ونډه وښيي او د پورتنيو موخو د ترلاسه کولو په پار له لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ کې مخ پر وړاندې حرکت وکړي. د دې خوځښت د منظمې بشپړتيا او چاپېريال د تغيراتو سره د اغېزمن تعامل په پار، غزني پوهنتون له (۱۴۰۳- ۱۴۰۷) ل.ل کلونو پورې يو منظم، منطقي او په سرچينو ولاړ ستراتيژيک پلان ترتيب کړی دی. په نوموړي پلان کې د ياد پوهنتون لرليد، مأموريت، ارزښتونه، موخې، فرصتونه، تهديدونه، قوتونه، ضعفونه، تشکيلات، سرچينې او نور اړونده موارد په پشپړو جزئياتو سره تشريح شوي دي. د نوموړي ستراتيژيک پلان په ترتيب کې، له مختلفو وسايلو څخه په ګټنې سره ټول ذيعلاقه اړخونه شريک شوي دي. هېره د نه وي چې نوموړی پنځه کلن ستراتيژيک پلان د لوړو زده کړو محترم وزارت له ستراتيژيکو موخو او لومړيتوبونو او د افغانستان اسلامي امارت له ټولو قوانينو او پاليسو سره بشپړ تطابق لري او ډاډمن يو چې په خپله کچه به په راتلونکو پنځو کلونو کې ټولو اقتصادي، سياسي، ټکنالوژيکي او کلتوري تغيراتو ته پر خپل وخت او د منطق په چوکاټ کې عاقلانه ځواب و وايي.

د غزني پوهنتون مشرتابه باور لري چې د ياد زده کړه ييز بنسټ د علمي کادر غړي به په پوره ژمنتيا، رښتينولۍ، ځيرکتيا، پياوړتيا، ايماني ځواک او هېوادنۍ مينې او خلوص سره د نوموړي پلان په پلي کولو کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي، ننګونو ته به تر وسې وسې پر خپل وخت ځواب ورکړي او په پوره ځيرکتيا سره به د فرصتونو د جذب او ګټنې په برخه کې غښتلي ګامونه اوچت کړي. غزني پوهنتون د دې ستراتيژيک پلان بريالي پلي کولو په پار د لوړو زده کړو وزارت، افغان ټولنې او نورو ټولو ذيعلاقه بنسټونو او اړخونو پر لور سترګې اړوي؛ چې د معياري او ټول منلو زده کړه ييزو چوپړتياوو وړاندې کولو، ټولنيزو مسئوليتونو ادايني، ټولنې په پرمختيا کې رښتينو هڅو او هېواد رغونې په برخو کې د رښتينو هڅو او اقداماتو ترسره کولو په چوکاټ کې د يادو اړخونو د بشپړو مرستو کولو تمه لرو او تر څنګ يې ډاډمن يو چې هغوی به د تل په څېر زمونږ سره مله پاتې شي.

اړينه ګڼو ياده شي چې، غزني پوهنتون د خپلو پياوړ بشري او نسبتاً بسيا او ورځې د غوښتنو مطابق فزيکي او مالي سرچينو په درلودلو سره بشپړ باور لري چې، کولای شي په ټاکلي وخت کې خپل رسالت ترلاسه او د هېواد د غيرتي بچو د واقعي روزنې له لارې د هېواد رغونې او علمي پرمختيا سره بشپړه مرسته وکړي او له دې لارې له خپلو

کړېدلو هېوادوالو سره کړې ژمنې پوره او خپل ایماني، وجداني او افغاني مسئولیت ادا کړي. مونږ نه هېروو چې د پرمختګ او سوکالۍ راوستلو لاره نه هواره او نه ژر طی کېدونکې ده، مګر ډاډمن یو چې زمونږ د قوي او نه ماتېدونکې ارادې غوټۍ به سپړېږي؛ په دې سره مونږ خپل سازماني ژوند ته معنا ورکوو او نه پرېږدو چې شرایط زمونږ ژوند ته هویت او معنی ورکړي.

په پای کې اړینه ګڼم چې د دې ستراتیژیک پلان ترتیبولو په درشل کې د غزني پوهنتون ستراتیژیک پلان کمېټې د قدرمنو غړو د تویې کړو خولو او نه ستړې کېدونکو هلو ځلو د درناوی په پار له هغوی ټولو څخه مننه وکړم او د لایزال ذات غنی دربار ته لاسونه لپه کوم چې په دې برخه کې د هغوی ترسره کړې چارې په عبادت قبولې او د اسلامي نړۍ د نېکمرغۍ لامل وګرځوي.

د سرلوړي هېواد پر آسمان د خپلواکۍ او پرمختګ د سپېڅلي توغ رپېدو د دوام په هیله

**مولوي عبدالواسع منصور**

**د غزني پوهنتون رییس**

## مفاهیم

په لاندې توګه، په دې ستراتیژیک پلان کې ځای پر ځای شوي مفاهیم تعریفیږي.

۱) **پلان**: هغه ذهني چوکاټ دی چې موخې پکې اټکل کیږي. په بل عبارت، په منظمه او سیستماتیکه توګه د ټاکل شوو موخو د ترلاسه کولو لپاره له وړاندې څخه تیارې شوې طرحې ته پلان ویل کیږي.

۲) **پلان جوړونه**: د راتلونکي پر وړاندې د ممکنه بهترینو معلوماتو په درلودنې سره د سیستماتیکو پریکړو، دې پریکړو د پلي کولو لپاره د اړینو هڅو منظمې سازماندهۍ او د غبرګون عامل له لارې د متوقعه او واقعي پایلو د سنجش او پرتلې یوې دوام لرونکې پروسې ته پلان جوړونه ویل کیږي. په بل عبارت، پلان جوړونه د یو مطلوب وضعیت تصور او طرح او دې وضعیت ته په آسانه توګه د رسېدو لپاره د وسایلو موندنه او اټکل دی.

۳) **ستراتیژي**: د یوې ادارې د اوږدمهاله موخو ټاکلو او دې موخو د ترلاسه کولو لپاره د اړینو اقداماتو او سرچینو ټاکنې او ځانګړې کولو پروسې ته ستراتیژي ویل کیږي. په بل عبارت، ستراتیژي د یو فعالیت د پایلو او ترسره کولو د وسایلو په هکله د بنسټیزو او حساسو پریکړو یوې ټولګې ته ویل کیږي.

۴) **ستراتیژیک پلان**: ستراتیژیک پلان هغه پروسه چې د سازمان لپاره پکې موخې ټاکل کیږي، د سازمان راتلونکې انځوروي او هغه کورني او باندني فشارونه منعکسوي، کوم چې سازمان تغیر ته اړ کوي.

۵) **ستراتیژیکه پلان جوړونه**: ستراتیژیکه پلان جوړونه د بنسټیزو پریکړو او اقداماتو یوه منظمه هڅه ده چې پر بنسټ یې؛ یو ارګان څه شی دی؟ کوم فعالیتونه ترسره کوي؟ او ولې دا فعالیتونه ترسره کوي؟ پوښتنو ته ځوابونه ویل کیږي. په بل عبارت، ستراتیژیکه پلان جوړونه هغه پروسه ده چې په یو خوځنده او سیالیز چاپېریال کې د یو ارګان د مأموریت او موخو ترلاسه کولو په پار، د یاد ارګان سرچینې تخصیصوي.

۶) **عملیاتي پلان جوړونه**: د اړینو بشري سرچینو، لګښتونو او وخت په تفکیک سره، د ځانګړو مېتودونو، وسایلو او امکاناتو له لارې د ستراتیژیکو موخو د تحقق لپاره د پړاوونو ټاکلو او کړنو تسلسل پروسې ته عملیاتي پلان جوړونه ویل کیږي.

۷) **د چاپېریال بررسي**: په کورني او بهرني چاپېریالونو پورې اړوندو، یو ارګان باندې اغېز لرونکو عواملو او معلوماتو څارنه، ارزونه او د ارګان د کلیدي غړو تر منځ شریکولو پروسې ته د چاپېریال بررسي ویل کیږي.

۸) **فورمولبندي (تدوین)**: د چاپېریال تر مطالعې وروسته، د ستراتیژیک پلان د ترتیب دوهم پړاو دی، چې پکې د یو ارګان د پایښت، ګټې او ودې درې ګونو موخو ترلاسه کولو لپاره، له بهرني چاپېریال سره د تعامل څرنګوالی، موخې، اقدامات، سرچینې او په ټوله کې له بهرني چاپېریال سره د تعامل نقشه ترسیمیږي.

۹) **تطبیق**: د پلان تطبیق، د پلان تر تدوین وروسته یو مهم پړاو دی او هغې پروسې ته اشاره کوي چې پر مټ یې ټولې کړنلارې او ستراتیژۍ له تیوریکي او نظري چوکاټ څخه د عمل میدان ته ځي او پلې کیږي.

۱۰) **کنټرول**: کنټرول هغه پروسه ده چې پر مټ یې کړنې او د هغو پایلې د متوقعه او واقعي پایلو تر منځ د واټن معلومولو په پار څارل کیږي. په بل عبارت، کنټرول هغه پروسه ده چې په پلي کېدو سره یې یو ارګان معلومات مومي چې، آیا د موخو ترلاسه کولو په مسیر باندې خوځښت دام مومي او که نه؟.

**۱۱) لرلید**: د راتلونکي یو مطلوب او لاسرسي وړ انځور دی، چې د تحقق په پار یې په یو ټولیز چوکاټ کې انسجام، یووالي، انګېزې، لېوالتیا، همت او مدبرانه ارادې ته اړتیا ده. په بل عبارت، لرلید هغه آرماني انځور دی چې د یو روښانه سبا پر لور مسیر ټاکي او د راتلونکو اړتیاوو په تأمین باندې ټینګار لري.

**۱۲) رسالت/ مأموریت**: مأموریت هغه ټولیزه بیانیه ده چې د یو ارګان رامنځته کېدو او عملیاتو ترسره کېدو علت بیانوي. په بل عبارت، مأموریت هغه سند دی چې یو ارګان له نورو ورته ارګانونو څخه بېلوي او د شتون فلسفه یې بیانوي.

**۱۳) هدف**: د یو منظم او منطقي فعالیت پایلې ته موخه ویل کېږي. په بل عبارت، موخه هغه وروستی پایله ده چې هڅې خپل لوري ته هدایت کوي.

**۱۴) عملیاتي موخه**: عملیاتي موخه، له هغې موخې څخه عبارت ده چې د پلان شوو کړنو پر مټ ترلاسه کېږي، په عددي توګه د بیان وړ وي او د ترلاسه کولو لپاره یې وخت مشخصېږي.

**۱۵) آرماني موخه**: آرماني موخه د یو ارګان هیلې دي، چې د ترلاسه کولو لپاره یې کوم ګام نه پورته کېږي، په عددي توګه نه بیانېږي او د ترلاسه کولو لپاره یې وخت هم نه شي مشخصېدای.

**۱۶) ستراتیژیکه موخه**: له هغه موخې څخه عبارت ده چې یوه اداره یې د ټاکل شوو ستراتیژیانو د تطبیق په پایله کې د ترلاسه کولو تمه لري.

**۱۷) لنډمهاله موخه**: له هغې موخې څخه عبارت ده چې یو سازمان یې خپلو ستراتیژیکو موخو ته د رسېدو لپاره د ترلاسه کولو هڅه کوي.

**۱۸) ارزښتونه**: هغه سیستمونه یا نښاني دي چې په ښه او بد، مطلوب او نامطلوب، مناسب او نامناسب او سم او ناسم او دېته ورته مفاهیمو پورې اړوندو انتزاعي اخلاقي نظریاتو کې سازماندهي کېږي. په بل عبارت، د ارګان ارزښتونه هغو ارزښتونو ته ویل کېږي چې د یو ارګان د کارکوونکو د فکر او چلند د هدایت جوګه کېږي او په هغوی باندې اغېزې لري.

**۱۹) ستراتیژیک عوامل**: له ټولو هغو چاپېریالي عواملو او متغیراتو څخه عبارت دی چې په سیده یا ناسیده توګه د یو ارګان پر کړنو باندې اغېزې لري او د فرصتونو، تهدیدونو، قوتونو او ضعفونو په نومونو سره یادېږي.

**۲۰) فرصتونه**: هغه مطلوبو او ممکنو حالتونو ته ویل کېږي چې د یو ارګان لپاره د نېکمرغی زېري راوړي او معمولاً د یو ارګان د کنټرول له محدودې څخه د باندې وي؛ یعنې د بهرني چاپېریال عنصر ګڼل کېږي. په بل عبارت، فرصت هغه بالقوه ګټې دي چې لا یې بالفعل بڼه نه ده خپله کړې.

**۲۱) تهدیدونه**: هغو نامطلوبو او ممکنو حالتونو ته ویل کېږي چې د یو ارګان لپاره د نېکمرغی زېري نه لري، بلکې د بشري سرچینو په فکر کې د مبارزې اور بلوي او معمولاً د یو ارګان د کنټرول له محدودې څخه د باندې وي. په بل عبارت، تهدید هغه بالقوه تاوان دی چې لا یې د بالفعل کېدو عوامل نه دي رامنځته شوي.

**۲۲) قوتونه**: قوتونه، هغو ممتازو وړتیاوو ته ویل کېږي چې پر مټ یې یو ارګان د سیالیز مزیت پر لور خوځېږي. په بل عبارت، قوت، د یو سیستم په د ننه کې هغه عنصر یا عامل ته ویل کېږي چې د اغېزمنې ګټنې په پایله کې یې د ارګان د موخو ترلاسه کولو او ضعفونو کموالي تمه کېږي.

**۲۳) ضعفونه:** ضعفونه، هغو نیمګړتیاوو ته ویل کېږي چې له مخې یې یو ارګان د سیالۍ کاروان په خوځښت کې ګړندیتوب له لاسه ورکوي. په بل عبارت، ضعف، د سیستم د کورنیو محدودیتونو یوه ټولګه ده چې د موخو د نه ترلاسه کولو لپاره زمینه برابروي.

**۲۴) چاپېریال:** چاپېریال، د هغو عواملو ټولګه ده چې د یو سیستم په موخه باندې ټاکونکې اغېزې لري، مګر سیستم په هغو باندې څومره اغېزې نه لري. په بل عبارت، چاپېریال د جریاناتو، شرایطو، پېښو، متحولینو، عواملو او اقداماتو یوه ټولګه ده چې د یو ارګان پر کړنو او موخو باندې اغېزې ښیندي او یا د سازمان اداره کوونکو عواملو تر اغېزو لاندې ځای نیسي.

**۲۵) بهرنی چاپېریال:** بهرنی چاپېریال، د هغو شرایطو او ځواکونو ټولګه ده چې د یو ارګان په ټاکنه باندې اغېز لري، مګر عموماً د سازمان له کنټرول څخه د باندې وي.

**۲۶) عمومي چاپېریال:** عمومي چاپېریال، د بهرني چاپېریال یوه برخه ده چې جوړوونکي عنصرونه یې د یو ارګان د مدیریت په طریقه باندې اغېزې لري.

**۲۷) عملیاتي چاپېریال:** عملیاتي چاپېریال، د بهرني چاپېریال یوه برخه ده چې جوړوونکي عنصرونه یې معمولاً د یو سازمان په اداره باندې تطبیقي او چټکې اغېزې لري.

**۲۸) کورنی چاپېریال:** کورنی چاپېریال، د سازماني چاپېریال هغه برخه ده چې د سازمان په د ننه کې شتون لري او معمولاً د سازمان په اداره باندې چټکې اغېزې لري.

**۲۹) د چاپېریال عدم ډاډ:** د چاپېریال عدم ډاډ، هغه حالت دی چې د ارګان د چارو په باره کې پرېکړه کوونکي اړخونه د چاپېریال د عواملو په اړه بسیا معلومات په واک کې نه لري او د سازمان د چاپېریال د تغیراتو په اټکل کې له ستونزو سره لاس او ګرېوان وي.

**۳۰) تهاجمي/ یرغلیزه ستراتیژي (SO):** تهاجمي ستراتیژي، هغه ستراتیژي ده چې له مخې یې یو ارګان د خپل قوت له ټکو څخه په ګټنې سره فرصتونه جلبوي.

**۳۱) رقابتي/ سیالیزه ستراتیژي (ST):** رقابتي ستراتیژي، هغه ستراتیژي ده چې له مخې یې یو ارګان د خپل قوت له ټکو څخه په ګټنې سره د تهدیدونو له منځه وړلو یا کمولو لپاره ګټه پورته کوي.

**۳۲) محافظه کارانه ستراتیژي (WO):** محافظه کارانه ستراتیژي، هغه ستراتیژي ده چې له مخې یې د یو ارګان پر وړاندې شته فرصتونو څخه په ګټنې سره د کورنیو ضعفونو له منځه وړلو لپاره ګټه پورته کېږي.

**۳۳) دفاعي ستراتیژي (WT):** دفاعي ستراتیژي، هغه ستراتیژي ده چې له مخې یې د تهدیدونو او ضعفونو د کمولو یا له منځه وړلو لپاره ګټه پورته کېږي.

## د پوهنتون د ستراتیژیک پلان چوکاټ

د پوهنتونونو د ستراتیژیک پلان چوکاټ په درېیو پړاوونو اوو ګامونو کې مطرح شوی دی. لومړی پړاو د ستراتیژیک پلان فورمولبندي ده، چې په سریزه یا لومړي څپرکي سره پیلیږي. دا برخه د ستراتیژیک پلان په اړتیا او اهمیت، لنډه پېژندنه، دندو او کړنو، ستراتیژیانو او مخکینیو ستراتیژیانو د بریا اندازې په بیان باندې شامله ده. د همدې پړاو دوهمه برخه د لرلید، رسالت، ارزښتونو او ستراتیژیکو موخو ټاکلو ته ځانګړې شوې ده. د فورمولبندۍ پړاو اړوند درېیم څپرکی دوې برخې لري؛ لومړۍ برخه یې د چاپېریال اړوندو عواملو (قوتونو، ضعفونو، فرصتونو او تهدیدونو) تحلیل ته ځانګړې شوې ده او دوهمه برخه یې د لوړو زده کړو وزارت د ستراتژیک پلان ستراتیژیک لومړیتوبونه انعکاسوي. بالآخره د دې برخې په وروستي څپرکي کې د ممکنه ستراتیژیانو ټاکنه، د ستراتیژیانو لومړیتوب ټاکنه او په پای کې هم ستراتیژیک لومړیتوب ټاکنه ځای لري.

دوهم پړاو، د ستراتیژۍ پلي کول دي، چې پنځم ګام یا څپرکي تا شاملیږي. دا څپرکی د لنډمهاله موخو ټاکنه او د پوهنتون ستراتیژیکو موخو ته د رسېدو په برخه کې د اړتیا وړ کلونو لپاره عملیاتي پلانونه رانغاړي. شپږم څپرکی په ځینو سمونو، لکه د پوهنتون جوړښت، پوهنتون سرچینو او په پای کې هم د پلانونو تطبیق ته ځانګړی شوی دی.

درېیم پړاو ارزونه ده، چې په اووم څپرکي کې باید د پوهنتون د ستراتیژیک پلان ارزونې لپاره یو میکانېزم ترتیب شي.

په دې برخه کې وړاندیز شوی موډل په راتلونکې پاڼه کې کتلای شی.

(۱) شکل: د غزني پوهنتون د ستراتیژیک پلان موډل



## سریزه (کلیات)

د مدیریت برخې مخکښې څېړې، پېټر ډراکر په اند، په نننۍ لحظوي توګه اوښتونکې نړۍ کې یوازینی عنصر چې د تغیر له څپو خوندي پاتې دی، خپله تغیر دی. دا تغیرات د ارګانونو په بهرني چاپېریال کې د فرصتونو او تهدیدونو رامنځته کېدو جوګه کېږي او له دې لارې د کورنیو قوتونو او ضعفونو شته وزن تغیر مومي او له چاپېریال سره د اغېزمن تعامل شته نقشه هم له کاره لوېږي. له همدې وجې، ارګانونه اړ کېږي چې د خپلو ګټو خوندیتوب په پار له موجوده وضعیت څخه مطلوبه وضعیت ته د تلو یو منظم او جامع لوری وټاکي. همدې واقعیتونو ته په پام سره، د اوښتون په دې لالهانده څپو کې د خوندي پاتې کېدو، ګټو ترلاسه کولو او ودې مسیر بریالي طی کولو په پار، د پلان جوړونې پر اړتیا سترګې نه شي پټېدای. د همدې اړتیا له مخې، غزني پوهنتون نومي ګډ اکاډمیک کور هم وغوښتل د پخوا په توګه خپل راتلونکی پنځه کلن علمي- تحصیلي مسیر د یو منظم، جامع او په سرچینو ولاړ ستراتیژیک پلان د ترتیب، تطبیق او کنټرول په وسیله طی کړي.

د یاد ستراتیژیک پلان د ترتیب څرنګوالی اړوند باید یاده کړو چې، د ترتیب په پار تر هر څه وړاندې په دقیقه او منظمه توګه بهرنی او کورني چاپېریالونه، د دخیلو اړخونو په معنی لرونکي ګډون سره مطالعه کړای شول، ترڅو پکې بالفعل او بالقوه ستراتیژیک عنصرونه (قوتونه، ضعفونه، فرصتونه او تهدیدونه) تعریف او اټکل کړل شي. ورپسې د لوړو زده کړو وزارت او غزني پوهنتون ستراتیژیکو موخو او لومړیتوبونو ته په پام سره، د معقولو او منطقي ستراتیژیانو په ټاکلو او لومړیتوب بندۍ سره د غزني پوهنتون نوی ستراتیژیک لوری وټاکل شو او تر څنګ یې د لرلید، رسالت، ستراتیژیکو موخو او ارزښتونو ټاکلو له لارې په دې لوري د بریالي خوځښت نقشه انځور کړای شوه. دا چې د ټاکل شوو موخو تحقق او مطلوبه وضعیت ته رسېدنه، د فعالیتونو ترسراوي غوښتنه کوي، نو په همدې پار، د علمي چارو، محصلانو چارو، مالي او اداري چارو او مجلې او علمي څېړنو څلور ګونو معاونیتونو پورې تړلو اقداماتو باندې شامل او د بشپړې همغږۍ پر اصل ولاړ عملیاتي پلانونه ترتیب او په یاد ستراتیژیک پلان کې ځای پر ځای شوي دي. هېره د نه وي چې د دې ستراتیژیک پلان د تطبیق او کنټرول په پار به د وخت د غوښتنو مطابق تطبیقي پلانونه او د څارنې میکانېزمونه او پلان ترتیب او له مخې به یې یاده ستراتیژیکه پروسه د بشپړتیا په لور وړل کېږي.

دا ستراتیژیک پلان د پوهنتونونو د ستراتیژیک پلان ترتیب په پار جوړ شوي لارښود مطابق په درېیو پړاوونو او اوو ګامونو باندې شامل دی. لومړی پړاو له سریزې څخه پیل او د ستراتیژیک پلان اړتیا او اهمیت، د غزني پوهنتون لنډه پېژندنه، دندې، کړنې، ستراتیژیانې او د مخکینیو ستراتیژیانو د بریا اندازې ښودنه، د غزني پوهنتون لرلید، رسالت، ستراتیژیکې موخې او ارزښتونه، د چاپېریال د عواملو (SWOT) تحلیل او د لوړو زده کړو محترم وزارت ستراتیژیکو لومړیتوبونو ته یې ځای ورکړی دی.

دوهم پړاو د لنډمهاله موخو ټاکنه، عملیاتي پلانونه، د پوهنتون سرچینې او تطبیقي برخه رانغاړي او بالآخره په وروستي پړاو کې د واقعي او متوقعه پایلو تر منځ د واټن اندازه کولو لپاره د یاد ستراتیژیک پلان د کنټرول اړوند، کنټرول میکانېزم باندې شامل دی. دا وروستی دوې برخې به یې د دې ستراتیژیک پلان د وروستي تائید ترلاسه کولو څخه وروسته او د تائید شوي ستراتیژیک پلان د پلي کولو سره جوخت پیل او راپور به یې وخت پر وخت له اړوندو برخو سره شریکېږي. ان شا الله.

## د غزني پوهنتون لنډه پېژندنه

غزني پوهنتون په (۱۳۸۷) ل.ل کال کې په فعالیت باندې پیل کړی دی. د غزني پوهنتون د فعالیت د پیل په لومړیو کې کرنې او ښوونې او روزنې پوهنځي د غزني پوهنتون په اډانه کې د تحصیلي خدماتو وړاندې کولو وياړ لري. غزني پوهنتون په (۱۳۹۲) ل.ل کال کې د اقتصاد او شرعیات دوو پوهنځیو د رسمي فعالیت پیلېدو شاهد پاتې شوی دی، چې په ترتیب سره یې په (منجمنټ او تشبثاتو اداره او مالي او بانکي چارو) او (فقه او قانون او اسلامي تعلیماتو) څانګو کې د تحصیلي خدماتو وړاندې کول پیل کړل. ژبې او ادبیات پنځم پوهنځی چې د غزني پوهنتون په چوکاټ کې یې د تحصیلي خدماتو په وړاندې کولو باندې پیل کړی دی. بالآخره په (۱۴۰۲) ل.ل کال کې د ښوونې او روزنې پوهنځي کمپیوټر څانګې، کمپیوټر ساینس پوهنځي ته ارتقا وکړه او د (معلوماتي ټکنالوژۍ او معلوماتي سیستمونه) په نومونو دوې څانګې لري. په دې ترتیب سره غزني پوهنتون اوسمهال ټولټال شپږ پوهنځي لري، چې له نېکه مرغه په شپږ واړو پوهنځیو کې د متخصصو او ژمنو علمي کادر غړو په درلودلو سره د هېواد د بچیانو لپاره د لوړو زده کړو ترلاسه کولو زمینه برابره ده. غزني پوهنتون تر دې د مخه د علمي چارو، محصلانو چارو او مالي او اداري چارو درې ګوني معاونیتونه درلودل، چې په خپلو برخو کې یې اغېزمنې کړنې ترسره کړې دي او ترسره کوي یې. اوسمهال د علمي څېړنو برخې ته د افغانستان اسلامي امارت په څانګړې توګه لوړو زده کړو وزارت د څانګړې پاملرنې په وجه د هېواد څېنو معتبرو پوهنتونونو ته د مجلې او علمي څېړنو معاونیتونه ورکړل شول، چې له نېکه مرغه په دې سره غزني پوهنتون هم د څلورم (مجلې او علمي څېړنو) معاونیت خاوند شو.

## د غزني پوهنتون تشکیلات

په لاندې توګه، د معاونیت، پوهنځي او څانګې پر بنسټ د غزني پوهنتون څېنې تشکیلاتي چارتونه ترسیم شوي دي.

(۲) شکل: د غزني پوهنتون د معاونیتونو تشکیلاتي چارت



(۳) شکل: د غزني پوهنتون د پوهنځیو تشکیلاتي چارټ




(۴) شکل: د کرنې پوهنځي تشکیلاتي چارټ




(۵) شکل: د ښوونې او روزنې پوهنځي تشکیلاتي چارټ



(۶) شکل: د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تشکیلاتي چارټ




(۷) شکل: د شرعیات پوهنځي تشکیلاتي چارټ




(۸) شکل: د اقتصاد پوهنځي تشکیلاتي چارټ




(۹) شکل: د کمپیوټر ساینس پوهنځي تشکیلاتي چارټ




### د غزني پوهنتون د بشري سرچینو اړوند:

غزني پوهنتون د خپلو ټاکل شوو موخو د تحقق لپاره په نسبتاً کافي اندازه، په کادري او اداري برخه کې پیاوړي، تجربه لرونکي او ژمن بشري ځواکونه لري. یادي بشري سرچینې تر خپلې وسې پورې د پوهنتون د پرمختګ لپاره هلې ځلې کوي او په خپلو کې اغیزمنې اړیکې او په لوړه کچه همغږي لري. د غزني پوهنتون د بشري سرچینو اړوند ارقام په لاندې جدول کې لوستلای شی.

(۱) جدول: د ۱۴۰۲ مالي کال دوهمې ربعې په جریان کې د خدماتي کارکوونکو احصائیه

| د خدماتي کارکوونکو کټګوري | | بست | | |
|---|---|---|---|---|
| | | اووم | آتم | ټولګه |
| | | ۱ | ۲ | ۳ |
| د خدماتي کارکوونکو تشکیل | | ۱۹ | ۳۳ | ۵۲ |
| د شته خدماتي کارکوونکو شمېر | نارینه | ۱۰ | ۲۱ | ۳۱ |
| | ښځینه | – | ۲ | ۲ |

(۲) جدول: د ۱۴۰۲ مالي کال دوهمې ربعې په جریان کې د رسمي کارمندانو احصائیه

| د کارمندانو کټګوري | | | بست | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړی | دوهم | درېیم | څلورم | پنځم | شپږم | ټولګه |
| | | ۰ | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ |
| د کارمندانو تشکیل | | | ۱ | ۵ | ۳۰ | ۲۰ | ۲ | ۵۸ |
| د شته کارمندانو شمېر | نارینه | ۱ | ۲ | ۴ | ۲۰ | ۱۳ | ۲ | ۴۲ |
| | ښځینه | | – | – | – | – | – | – |

(۳) جدول: د ۱۴۰۲ مالي کال دوهمې ربعې په جریان کې د استادانو احصائیه

| د استادانو کټګوري | | بست | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړی | دوهم | درېیم | څلورم | ټولګه |
| د استادانو تشکیل | | ۱ | ۹ | ۲۵ | ۱۱۳ | ۱۴۸ |
| د شته شته شمېر | نارینه | – | ۲ | ۱۹ | ۴۲ | ۱۰۷ |
| | ښځینه | – | – | – | ۴ | ۴ |

## د غزني پوهنتون د محصلینو اړوند:

له نېکه مرغه چې غزني پوهنتون د خپل فعالیت له پیل څخه تر دې دمه خپلو مختلفو پوهنځیو ته زرګونه محصلین جذب او ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړي دي. په لاندې جدولونو کې د غزني پوهنتون له لوري د جذب کړل شوو، فارغو شوو او برحاله محصلینو اړوند ارقام کتلای شی.

(۴) جدول: له (۱۳۹۸– ۱۴۰۲) کلونو پورې د جذب کړو محصلینو اړوند ارقام

| ګڼه | کال | پوهنځی | جنسیت | | ټولګه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | ۱۳۹۸ | ښوونه او روزنه | ۱۰۵ | ۹۵ | ۲۰۰ | |
| | | کرنه | ۱۶۳ | ۳۱ | ۱۹۴ | |
| | | ژبې او ادبیات | ۱۸۰ | ۸۵ | ۲۶۵ | |
| | | شرعیات | ۸۶ | ۲۱ | ۱۰۷ | |
| | | اقتصاد | ۱۹۷ | ۲۸ | ۲۲۵ | |
| | | شپنې برنامه | ۱۴ | ۹ | ۲۳ | ښوونه او روزنه |
| ټولګه | | | ۷۴۵ | ۲۶۹ | ۱۰۱۴ | |
| ۲ | ۱۳۹۹ | ښوونه او روزنه | ۲۲۷ | ۱۲۷ | ۳۵۴ | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | کرنه | ۱۱۷ | ۴۰ | ۱۵۷ | |
| | | ژبې او ادبیات | ۱۷۹ | ۸۳ | ۲۶۲ | |
| | | شرعیات | ۸۴ | ۱۷ | ۱۰۱ | |
| | | اقتصاد | ۱۵۳ | ۶۸ | ۲۲۱ | |
| | | شپنی برنامه | ۹۱ | ۶۳ | ۱۵۴ | ښوونه او روزنه |
| **ټولګه** | | | **۸۵۱** | **۳۹۸** | **۱۲۴۹** | |
| ۳ | ۱۴۰۰ | ښوونه او روزنه | ۱۹۰ | ۱۱۵ | ۳۰۵ | |
| | | کرنه | ۸۶ | ۲۷ | ۱۱۳ | |
| | | ژبې او ادبیات | ۱۴۱ | ۷۵ | ۲۱۶ | |
| | | شرعیات | ۷۸ | ۲۲ | ۱۰۰ | |
| | | اقتصاد | ۱۰۴ | ۵۵ | ۱۵۹ | |
| | | شپنی برنامه | ۹ | ۱۲ | ۲۱ | ښوونه او روزنه |
| **ټولګه** | | | **۶۰۸** | **۳۰۶** | **۹۱۴** | |
| ۴ | ۱۴۰۱ | ښوونه او روزنه | ۲۱۵ | ۲۱۵ | ۴۳۰ | |
| | | کرنه | ۱۳۸ | ۰ | ۱۳۸ | |
| | | ژبې او ادبیات | ۱۸۱ | ۱۴۸ | ۳۲۹ | |
| | | شرعیات | ۶۵ | ۶۰ | ۱۲۵ | |
| | | اقتصاد | ۱۱۱ | ۸۵ | ۱۹۶ | |
| | | شپنی برنامه | ۰ | ۰ | ۰ | ښوونه او روزنه |
| **ټولګه** | | | **۷۱۰** | **۵۰۸** | **۱۲۱۸** | |
| ۵ | ۱۴۰۲ | ښوونه او روزنه | ۶۸ | ۰ | ۶۸ | |
| | | کرنه | ۱۴۱ | ۰ | ۱۴۱ | |
| | | ژبې او ادبیات | ۱۲۴ | ۰ | ۱۲۴ | |
| | | شرعیات | ۵۴ | ۰ | ۵۴ | |
| | | اقتصاد | ۶۴ | ۰ | ۶۴ | |
| | | کمپیوټر ساینس | ۷۸ | ۰ | ۷۸ | |
| | | شپنی برنامه | ۰ | ۰ | ۰ | ښوونه او روزنه |
| **ټولګه** | | | **۵۲۹** | **۰** | **۵۲۹** | |
| عمومي ټولګه | | | **۳۳۴۳** | **۱۴۸۱** | **۴۹۲۴** | |

(۵) جدول: له (۱۳۹۰– ۱۴۰۱) کلونو پورې د فارغو شوو محصلینو اړوند ارقام

| **ګڼه** | **کال** | **پوهنځی** | **جنسیت** | | **ټولګه** | **کتنې** |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | **نارینه** | **ښځینه** | | |
| ۱ | ۱۳۹۰ | ښوونه او روزنه | ۳۷ | ۱۴ | ۵۱ | |
| | | کرنه | ۴۷ | ۰ | ۴۷ | |
| **ټولګه** | | | **۸۴** | **۱۴** | **۹۸** | |
| ۲ | ۱۳۹۱ | ښوونه او روزنه | ۶۸ | ۳۱ | ۹۹ | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | کرنه | ۵۵ | ۰ | ۵۵ | |
| | | **ټولګه** | **۱۲۳** | **۳۱** | **۱۵۴** | |
| ۳ | ۱۳۹۲ | ښوونه او روزنه | ۵۰ | ۳۵ | ۸۵ | |
| | | کرنه | ۶۹ | ۰ | ۶۹ | |
| | | **ټولګه** | **۱۱۹** | **۳۵** | **۱۵۴** | |
| **۴** | **۱۳۹۳** | ښوونه او روزنه | ۱۳۲ | ۴۰ | ۱۷۲ | |
| | | کرنه | ۷۷ | ۱ | ۷۸ | |
| | | ژبي او ادبيات | ۵۳ | ۱۴ | ۶۷ | |
| | | **ټولګه** | **۲۶۲** | **۵۵** | **۳۱۷** | |
| **۵** | **۱۳۹۴** | ښوونه او روزنه | ۸۷ | ۶۰ | ۱۴۷ | |
| | | کرنه | ۱۳۲ | ۰ | ۱۳۲ | |
| | | ژبي او ادبيات | ۹۶ | ۲۲ | ۱۱۸ | |
| | | **ټولګه** | **۳۱۵** | **۸۲** | **۳۹۷** | |
| **۶** | **۱۳۹۵** | ښوونه او روزنه | ۱۳۱ | ۴۲ | ۱۷۳ | |
| | | کرنه | ۱۳۰ | ۲ | ۱۳۲ | |
| | | ژبي او ادبيات | ۸۴ | ۲۱ | ۱۰۵ | |
| | | شرعيات | ۱۲۴ | ۲۲ | ۱۴۶ | |
| | | اقتصاد | ۱۱۲ | ۴ | ۱۱۶ | |
| | | **ټولګه** | **۵۸۱** | **۹۱** | **۶۷۲** | |
| **۷** | **۱۳۹۶** | ښوونه او روزنه | ۲۱۵ | ۶۷ | ۲۸۲ | |
| | | کرنه | ۱۵۱ | ۱ | ۱۵۲ | |
| | | ژبي او ادبيات | ۱۸۴ | ۲۶ | ۲۱۰ | |
| | | شرعيات | ۱۲۱ | ۵ | ۱۲۶ | |
| | | اقتصاد | ۱۵۳ | ۷ | ۱۶۰ | |
| | | **ټولګه** | **۸۲۴** | **۱۰۶** | **۹۳۰** | |
| **۸** | **۱۳۹۷** | ښوونه او روزنه | ۲۳۷ | ۱۱۱ | ۳۴۸ | |
| | | کرنه | ۱۳۵ | ۲ | ۱۳۷ | |
| | | ژبي او ادبيات | ۴۴ | ۱۵۰ | ۱۹۴ | |
| | | شرعيات | ۱۲۹ | ۱۰ | ۱۳۹ | |
| | | اقتصاد | ۱۴۷ | ۱۴ | ۱۶۱ | |
| | | شپني برنامه | ۶۴ | ۴ | ۶۸ | ښوونه او روزنه |
| | | **ټولګه** | **۷۵۶** | **۲۹۱** | **۱۰۴۷** | |
| **۹** | **۱۳۹۸** | ښوونه او روزنه | ۲۰۹ | ۱۱۸ | ۳۲۷ | |
| | | کرنه | ۱۴۳ | ۵ | ۱۴۸ | |
| | | ژبي او ادبيات | ۱۵۶ | ۵۴ | ۲۱۰ | |
| | | شرعيات | ۷۹ | ۷ | ۸۶ | |
| | | اقتصاد | ۱۸۱ | ۱۴ | ۱۹۵ | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | شپني برنامه | ۸۰ | ۱۵ | ۹۵ | ښوونه او روزنه |
| **ټولګه** | | | **۸۴۷** | **۲۱۲** | **۱۰۵۹** | |
| ۱۰ | ۱۴۰۰ | ښوونه او روزنه | ۱۲۱ | ۱۲۸ | ۲۴۹ | |
| | | کرنه | ۸۹ | ۷ | ۹۶ | |
| | | ژبې او ادبيات | ۱۴۸ | ۷۱ | ۲۱۹ | |
| | | شرعيات | ۷۶ | ۱۱ | ۸۷ | |
| | | اقتصاد | ۱۶۶ | ۲۴ | ۱۹۰ | |
| | | شپني برنامه | ۴۳ | ۵ | ۴۸ | ښوونه او روزنه |
| **ټولګه** | | | **۶۴۳** | **۲۴۶** | **۸۸۹** | |
| ۱۱ | ۱۴۰۱ | ښوونه او روزنه | ۱۲۵ | ۱۷۷ | ۳۰۲ | |
| | | کرنه | ۱۰۳ | ۱۲ | ۱۱۵ | |
| | | ژبې او ادبيات | ۱۴۵ | ۵۹ | ۲۰۴ | |
| | | شرعيات | ۵۷ | ۱۳ | ۷۰ | |
| | | اقتصاد | ۱۶۱ | ۱۹ | ۱۸۰ | |
| **ټولګه** | | | **۵۹۱** | **۲۸۰** | **۸۷۱** | |
| **عمومي ټولګه** | | | **۵۱۴۵** | **۱۴۴۳** | **۶۵۸۸** | |

(۶) جدول: د (۱۴۰۲) ل.ل کال په خزاني سمستر کې د برحاله محصلینو اړوند ارقام

| د (۱۴۰۲) ل.ل کال د خزاني سمستر د برحاله محصلینو اړوند ارقامو جدول | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **کڼه** | **پوهنځی** | **څانګه** | **لومړی ټولګی** | | **دوهم ټولګی** | **دریم ټولګی** | **څلورم ټولګی** | **ټولګه** |
| | | | لومړی سمستر | دوهم سمستر | | | | |
| ۱ | ژبې او ادبيات | دري | ۴۱ | ۲۴ | ۲۲ | ۱۳ | ۱۹ | ۱۱۹ |
| | | پښتو | ۴۱ | ۲۷ | ۲۴ | ۴۲ | ۴۶ | ۱۸۰ |
| | | عربي | ۴۲ | ۲۵ | ۱۸ | ۳۴ | ۳۰ | ۱۴۹ |
| | | انګلیسي | ۵۰ | ۳۹ | ۳۳ | ۳۱ | ۳۲ | ۱۸۵ |
| **ټولګه** | | | **۱۷۴** | **۱۱۵** | **۹۷** | **۱۲۰** | **۱۲۷** | **۶۳۳** |
| ۲ | ښوونه او روزنه | تاريخ | ۲۷ | ۱۹ | ۱۳ | ۱۷ | ۱۳ | ۸۹ |
| | | کمپیوټر | ۲۸ | ۴۳ | ۳۴ | ۲۷ | ۳۴ | ۱۶۶ |
| | | رياضي | ۲۷ | ۳۳ | ۲۲ | ۱۹ | ۲۳ | ۱۲۴ |
| | | بیولوژي | ۲۶ | ۲۷ | ۲۲ | ۲۰ | ۰ | ۹۵ |
| | | فزيک | ۲۵ | ۳۱ | ۱۳ | ۱۶ | ۰ | ۸۵ |
| | | کيميا | ۲۶ | ۲۱ | ۱۰ | ۱۲ | ۰ | ۶۹ |
| **ټولګه** | | | **۱۵۹** | **۱۷۴** | **۱۱۴** | **۱۱۱** | **۷۰** | **۶۲۸** |
| ۳ | کرنه | هارتیکلچر | ۶۳ | ۳۱ | ۱۹ | ۲۱ | ۳۶ | ۱۷۰ |
| | | اګرانومي | ۸۱ | ۲۴ | ۸ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۵۲ |
| | | حیواني علوم | ۳۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳۰ |
| | | کرنیز اقتصاد | ۶۲ | ۲۶ | ۱۷ | ۱۶ | ۳۸ | ۱۵۹ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولګه | | | ۲۳۶ | ۸۱ | ۴۴ | ۵۴ | ۹۶ | ۵۱۱ |
| ۴ | اقتصاد | BBA | ۳۷ | ۵۴ | ۳۵ | ۴۷ | ۷۵ | ۲۴۸ |
| | | مالي او بانکي | ۳۵ | ۴۹ | ۳۹ | ۴۷ | ۶۰ | ۲۳۰ |
| ټولګه | | | ۷۲ | ۱۰۳ | ۷۴ | ۹۴ | ۱۳۵ | ۴۷۸ |
| ۵ | شرعيات | فقه او قانون | ۴۰ | ۱۳ | ۲۸ | ۲۹ | ۲۶ | |
| | | اسلامي تعليمات | ۳۷ | ۱۴ | ۲۳ | ۲۲ | ۳۶ | ۱۳۲ |
| ټولګه | | | ۷۷ | ۲۷ | ۵۱ | ۵۱ | ۶۲ | ۲۶۸ |
| ۴ | کمپیوټر ساینس | معلوماتي ټکنالوژي | ۴۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۴۰ |
| | | معلوماتي سیستم | ۴۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۴۰ |
| ټولګه | | | ۸۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۸۰ |
| د ورځې برنامې عمومي ټولګه | | | ۷۹۸ | ۵۰۰ | ۳۸۰ | ۴۳۰ | ۴۹۰ | ۲۵۹۸ |

**(۷) جدول: د شپنۍ برنامې د محصلینو احصائیه**

| کڼه | پوهنځی | څانګه | برنامه | لومړی ټولګی | دوهم ټولګی | دریم ټولګی | څلورم ټولګی | پنځم ټولګی | ټولګه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ژبې او ادبیات | پښتو | شپنۍ | ۰ | ۰ | ۶ | ۱۱ | ۲۹ | ۴۶ | |
| | | دري | | ۰ | ۰ | ۶ | ۸ | ۳۲ | ۴۶ | |
| ټولګه | | | | ۰ | ۰ | ۱۲ | ۱۹ | ۶۱ | ۹۲ | |

## د غزني پوهنتون بودجې اړوند:

روښانه ده چې د پلانونو د تعقیب او بشپړتیا په پار د بشري سرچینو، فزیکي سرچینو او معلوماتي سرچینو تر څنګ مالي سرچینو ته هم سخته اړتیا لیدل کیږي او له مالي سرچینو څخه پرته له نورو سرچینو څخه ګټنه د امکان له پولو وتلې ده. غزني پوهنتون ته هم هر کال د هېواد د نورو دولتي پوهنتونو په شان د لوړو زده کړو وزارت له لوري بودجه ځانګړې کیږي. دا بودجه عادي او انکشافي برخو ته شاملیږي، چې اړوند ارقام يې په لاندي جدول کې کتلای شی.

(۷) جدول: له (۱۳۹۸– ۱۴۰۲) کلونو پورې د غزني پوهنتون د بودجې اړوند ارقام

| کڼه | کال | د بودجې ډول | | ټولګه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| | | عادي (په افغانی) | انکشافي (په افغانی) | | |
| ۱ | ۱۳۹۸ | ۱۲۰۴۰۰۰۰۰ | ۱۴۴۹۰۰۰ | ۱۲۱۸۴۹۰۰۰ | |
| ۲ | ۱۳۹۹ | ۱۱۷۴۱۵۷۰۶ | ۱۳۹۹۰۰۰۰۰ | ۲۵۷۳۱۵۷۰۶ | |
| ۳ | ۱۴۰۰ | ۵۲۲۶۸۱۲۰ | ۰ | ۵۲۲۶۸۱۲۰ | |
| ۴ | ۱۴۰۱ | ۱۷۳۶۰۰۰۰۰ | ۸۶۸۱۵۰۰ | ۱۸۲۲۸۱۵۰۰ | |
| ۵ | ۱۴۰۲ | ۹۷۰۳۴۴۹۴ | ۱۳۴۸۱۸۴۰۰۰ | ۱۴۴۵۲۱۸۴۹۴ | |
| عمومي ټولګه | | ۵۶۰۷۱۸۳۲۰ | ۱۴۹۸۲۱۴۵۰۰ | ۲۰۵۸۹۳۲۸۲۰ | |

### د غزني پوهنتون د ساحې، موقعیت او تعمیرونو اړوند:

د غزني پوهنتون لپاره (۹۷۳۳۸۳) متر مربع ځمکه ځانګړې شوې ده، چې په دې ټوله ساحه باندې (۴۷۰۰) متره حفاظتي دېوال را چاپېره شوی دی او له ډلې یې د ماسټر پلان مطابق (۱۹۸۰۱۰) متر مربع د اکاډمیکې ساحې لپاره، (۶۵۷۳۰) متر مربع د رهایشي ساحې، (۵۰۸۹۹) متر مربع د سپورتي ساحې، (۱۱۰۲۴۴) متر مربع د سړکونو او (۵۴۸۵۰۰) متر مربع هغه د شنې ساحې او پارکونو لپاره ځانګړې شوې ده. یاد پوهنتون د غزني ښار ختیځ لور ته په شا او خوا (۱۲) کیلو مترۍ کې په قلعه جوز کې موقعیت لري. غزني پوهنتون دا مهال (۵) بابه لوی او کوچني تعمیرونه لري. د یادو تعمیرونو اړوند معلومات په لاندې جدول کې لوستلای شی. البته یاده د وې چې د انجینیري پوهنځي تعمیر په غزني پوهنتون کې له وړاندې څخه جوړ شوی دی او یاد پوهنځی لا هم په غزني پوهنتون کې فعالیت نه لري.

(۸) جدول: د غزني پوهنتون د تعمیرونو اړوند معلومات

| ګڼه | د تعمیر نوم | د پوړونو شمېر | ظرفیت | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | کرنې پوهنځی | ۲ | ۸ ټولګي | کوچنی خونې هم لري |
| ۲ | انجینیري پوهنځی | ۴ | ۷۵۰ نفر | تعمیر شته، مګر پوهنځی نه شته |
| ۳ | ښځینه وو شپېغالي (دوه بابه) | ۲ | ۱۲۸ نفر | |
| ۴ | نارینه وو شپېغالي | ۴ | ۴۰۰ نفر | |
| ۵ | مسجد شریف | ۱ | ۲۰۰ نفر لمونځ کوونکي | |

### د غزني پوهنتون شته کړنو ته کتنه

د غزني پوهنتون منسوبینو تل د خپلو ایماني، وجداني او ملي مسئولیتونو اداینې له مخې، د اغېزمنو کړنو ترسره کولو او خپلو موخو تحقق له لارې، د لوړو زده کړو وزارت د موخو له تحقق سره مرسته کړې ده او همدا لړۍ دوام لري. د غزني پوهنتون منسوبین په مختلفو کچو او مدیریتونو کې، اوسمهال د خپل لومړني ستراتیژیک پلان د پنځم تطبیقي پلان د تطبیق په چارو بوخت دی. دا چارې د کمېټو او شوراګانو په چوکاټ کې په ډله ییزه توګه او هم د انفرادي عملیاتي پلانونو او واحداتو د عملیاتي پلانونو له مخې په انفرادي توګه ترسره کېږي. کولای شو په لاندې توګه له ځینو هغو چارو څخه یاده وکړو، کومې چې اوسمهال په غزني پوهنتون کې د پلي کېدو (تطبیق) په حالت کې دي:

۱) د علمي مجلې نشر او توزیع.

۲) د علمي ترفېعاتو اجرا.

۳) د حلقوي سړک جوړېدو چارې.

۴) د فساد پر وړاندې ټینګه مبارزه.

۵) د بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کولو په پار هڅې.

۶) د شنې ساحې پراختیا او پالنه.

۷) د مادي او معنوي مرستو جلب.

۸) د مسلکي پرمختیا د پروګرامونو تطبیق.

۹) د برښنايي زده کړو ترويج او توسعې هڅې.

۱۰) د شاګرد محورۍ سيستم بشپړ تطبيق اړوند هڅې.

۱۱) د محصلينو لپاره د کارموندنې د سلا ورکړې اړوند کړنې.

## د غزني پوهنتون د مخکينيو ستراتيژيو د ماتې لاملونه

له نېکه مرغه چې غزني پوهنتون تر دې د مخه خپل لومړۍ ستراتيژيک پلان، چې له (۱۳۹۸- ۱۴۰۲) پورې زماني مقطع پورې يې تړاو درلود تطبيق کړی دی. په لومړني ستراتيژيک پلان کې درج شوې ستراتيژيانې د لاندې دلايلو له مخې په بشپړه توګه نه دي پلې شوې:

۱) د بودجې کموالی،

۲) د بشري سرچينو د شمېر کموالی،

۳) په ټولو کچو کې د ستراتيژيکو پلانونو نه درلودل،

۴) د علمي کادر غړو د شمېر کموالي له وجې د کاري فشار زياتوالی،

۵) د اکاډميک اعتبار په ترلاسه کولو کې ناتواني،

۶) د ذيعلاقه اړخونو د مرستو کموالی،

۷) په خپل وخت کې د ستراتيژيو نه تطبيق.

## د لرليد بيانيه

غزني پوهنتون په پام کې لري چې د ټولنې د اړتياوو سره په مطابقت کې د تدريس، څېړنې او معياري خدمتونو وړاندې کولو له لارې، د هېواد او سيمې په کچه په علمي- څېړنيزه او تحصيلي برخو کې د يو باوري او اوچت بنسټ په توګه وپېژندل شي.

## د رسالت/ مأموريت بيانيه

غزني پوهنتون د يو علمي- څېړنيز او تحصيلي بنسټ په توګه ژمن دی چې د خپلو شته امکاناتو او فرصتونو په پام کې نيولو او معاصرې ټکنالوژۍ څخه په ګټې سره، علمي او مسلکي کادرونه تربيه او د ټولنې د اړتياوو مطابق علمي څېړنې ترسره کړي.

## بنسټيز ارزښتونه

د غزني پوهنتون بنسټيز ارزښتونه عبارت دي له:

۱) اسلامي- اداري اصولو ته درناوی.

۲) د مسلکي اخلاقو رعايت.

۳) شايسته سالاري.

۴) سازماني عدالت.

۵) بشري کرامت ته درناوی.

۶) رښتینولي او کاري ژمنتیا.

۷) اسلامي- ملي کلتور ته درناوی.

۸) د مسئولیت احساس.

۹) له فساد او تعصب سره مبارزه.

۱۰) ابتکارات.

۱۱) ګډ کار کول.

۱۲) سالمه سیالي.

۱۳) کاري خوندیتوب.

## ستراتیژیکې موخې

د غزني پوهنتون ټول منسوبین ژمن دي چې له خپلو وړتیاوو او ظرفیتونو څخه په بشپړې ګټنې سره د لاندې ستراتیژیکو موخو په تحقق کې کار واخلي او په دې سره د هېواد د ښې راتلونکې او پرمختیا په راوستلو او لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیکو موخو په تحقق کې فعاله ونډې اخیستنې له لارې خپل دیني، ملي او وجداني مسئولیتونه ادا کړي.

۱) د علمي څېړنو پرمختیا او نوښت وده.

۲) د ادارې او رهبرۍ د اغېزمنتیا زیاتول او په سیستماتیکه توګه د فساد بشپړه محوه.

۳) د نصاب بیاکتنه او د پرمختیا لپاره یې د مقدماتو برابرول.

۴) د کیفیت د کچې اوچتول او ساتل.

۵) د برښنایي- تحصیلي چوپړتیاوو د اغېزمنتیا لوړول.

۶) د تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کولو لپاره د ټولو آسانتیاوو او امکاناتو برابرول.

۷) د بشري سرچینو د استعدادونو پرمختیا.

۸) د اړیکو د یو اغېزمن سیستم پلي کول او پیاوړتیا.

۹) د استعدادونو د ودې او پرمختیا په پار د معیاري خدماتو وړاندې کول او لوړو زده کړو ته د عادلانه لاسرسي لپاره زمینه برابرول.

(۹) جدول: د لویو/ ستراتیژیکو موخو لومړیتوب بندي

| ګڼه | لویې/ ستراتیژیکې موخې | د ارزونې معیارونه (امتیاز له (۰- ۱۰) پورې) | | | | | | | د امتیازاتو ټولګه | د لومړیتوب درجه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د قبولیت وړتیا | انعطاف قبلونه | د سنجش وړتیا | د هڅونې وړتیا | د پوهېدو وړتیا | د تحقق وړتیا | همغږي | | |
| ۱ | د علمي څېړنو پرمختیا او نوښت وده | ۱۰ | ۸ | ۹ | ۷ | ۹ | ۷ | ۱۰ | ۶۰ | ۳ |
| ۲ | د اداري او رهبرۍ د اغېزمنتیا زیاتول او په سیستماتیکه توګه د فساد بشپړه محوه | ۱۰ | ۷ | ۶ | ۸ | ۷ | ۷ | ۶ | ۵۱ | ۹ |
| ۳ | د نصاب بیاکتنه او د پرمختیا لپاره یې د مقدماتو برابرول | ۸ | ۷ | ۷ | ۸ | ۸ | ۸ | ۹ | ۵۵ | ۶ |
| ۴ | د کیفیت د کچې اوچتول او ساتل | ۱۰ | ۷ | ۸ | ۷ | ۹ | ۸ | ۹ | ۵۸ | ۴ |
| ۵ | د برښنایي- تحصیلي چوپړتیاوو د اغېزمنتیا لوړول | ۱۰ | ۹ | ۱۰ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۹ | ۶۵ | ۱ |
| ۶ | د تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کولو لپاره د ټولو آسانتیاوو او امکاناتو برابرول | ۹ | ۸ | ۸ | ۶ | ۸ | ۷ | ۶ | ۵۲ | ۸ |
| ۷ | د بشري سرچینو د استعدادونو پرمختیا | ۹ | ۸ | ۹ | ۷ | ۸ | ۶ | ۷ | ۵۴ | ۷ |
| ۸ | د اړیکو د یو اغېزمن سیستم پلي کول او پیاوړتیا | ۱۰ | ۸ | ۱۰ | ۹ | ۹ | ۸ | ۱۰ | ۶۴ | ۲ |
| ۹ | د استعدادونو د ودې او پرمختیا په پار د معیاري خدماتو وړاندې کول او لوړو زده کړو ته د عادلانه لاسرسي لپاره زمینه برابرول | ۹ | ۸ | ۸ | ۱۰ | ۸ | ۷ | ۷ | ۵۷ | ۵ |

## د لوړو زده کړو وزارت د لسګونو موخو لاندې د غزني پوهنتون برنامې

دېته په پام سره چې د هرې کچې ملي اداري ستراتیژیانې باید له یو بنسټیز ټولیز چتر څخه پیروي وکړي، د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتیژیک پلان موخې هم د افغانستان اسلامي امارت د لومړیتوبونو او هېواد ملي ستراتیژۍ پر بنسټ ټاکل شوي دي، چې اړتیا لیدل کیږي محترم پوهنتونونه/ د لوړو زده کړو موسسې هم په دې برخه کې ستراتیژیانې تدوین او پلي کړي. دا موخې په لاندې توګه دي:

۱) د څېړنو پرمختیا، د پوهې تولید او نوښت.

۱) د علمي څېړنې ترسره کولو لپاره د آسانتیاوو او امکاناتو برابرول.

۲) د یوې عملي طرحې د تطبیق له لارې د علمي څېړنو په شمېر کې زیاتوالی راوستل.

۳) د ظرفیتونو ودې له لارې د علمي څېړنو په کیفیت کې مثبت تغیر راوستل.

۴) د یو منظم پلان له مخې د پوهنتون او هېواد په کچه علمي- څېړنیزو سیمینارونو په لاره اچول.

۵) د یو منظم پلان له لارې د خلاقیت او نوښت زده کړې پروګرامونه عملي کول.

۶) د یو منظم پلان له مخې، د خلاقیت او نوښت د ترویج لپاره کوښښونه.

۷) د خلاقیت او نوښت د پرمختګ لپاره د معقولو او عملي پلانونو جوړول او د تطبیق هڅې.

۲) اداره او رهبري، د سیستم رامنځته کول او د فساد بشپړ له منځه وړل.

۱) د اداري فساد ورکولو په پار د فعالیتونو دوام.

۲) د مسئولیتونو د اداینې څخه د ډاډ ترلاسه کولو په پار د حساب ورکولو د یوې طرحې جوړول.

۳) د پوهنتون په کچه د اغېزمن مدیریت د اصولو د عملي تطبیق لپاره منظمې او سیستماتیکې هلې ځلې.

۳) د نصابونو بیاکتنه، پرمختیا او تدوین.

۱) د یو منظم پلان له مخې د تحصیلي نصاب د اغېزمنتیا ارزونه.

۲) د شته تحصیلي نصاب د تطبیق ارزونه او د سمون په موخه یې د پایلو شریکول.

۳) په سیستماتیکه او منظمه توګه د ټولنې او کار د بازار د اړتیاوو درک کول.

۴) د زده کړو د کیفیت اوچتوالي په موخه د پوهنې د نصاب بدلون لپاره د یوې جامع طرحې جوړول.

۴) د لوړو زده کړو بنسټونو د کیفیت څارنه، ارزونه او ښه والی.

۱) د خپلمنځي سیالیو په لاره اچولو له لارې د کیفیت ښه والي هڅې.

۲) د کیفیت لوړاوي اړوند معلوماتي تشې ډکول.

۳) د کیفیت لوړاوي د معیارونو د بشپړ تطبیق لپاره منظمې او سیستماتیکې هڅې.

۴) د کیفیت د معیارونو د تطبیق ارزونې لپاره د منظمې طرحې ترتیب او تطبیق.

۵) د برښنایي زده کړو پرمختیا او ښه والی.

۱) د برښنایي زده کړو لپاره د یو اغېزمن سیستم طرح کول.

۲) د برښنایي زده کړو ودې لپاره د امکاناتو او آسانتیاوو برابرول.

۳) د یوې معقولې طرحې د تطبیق له لارې د برښنایي زده کړو کیفیت اوچتول.

۶) د بیخ بنسټونو توسعه، ښه والی او تجهیز.

۱) د فعالیتونو توسعې له لارې د زیاتې اندازې مالي سرچینو ترلاسه کولو هڅې.

۲) د نوو ودانیو جوړول.

۳) د دفترونو تجهیز په موخه د تجهیزاتو او وسایلو تهیه او تدارک.

۴) د نارینه وو د شپېغالي (لیلیې) فعالول.

۵) د استادانو او کارمندانو د استوګنې ځای ورکړې لپاره اړینې هڅې.

۶) د شنې ساحې او پارکونو د احداث لپاره د طرحې جوړول او عملي کول.

۷) د نوو ځاګانو کیندل.

۸) د پوهنتون د کورنیو سړکونو د بنسټیزې جوړېدنې لپاره کوښښونه.

۷) د علمي کادر غړو او کارمندانو ظرفیت لوړونه.

۱) د استادانو او کارمندانو د علمي سويې اوچتولو لپاره عملي ګامونه اوچتول.

۲) د استادانو او کارمندانو د مهارتونو لوړولو لپاره منظمې او سيستماتيکې هڅې.

۳) د استادانو د علمي رتبو اخيستو لپاره آسانتياوې برابرول.

۸) د تقنيني او تخنيکي سندونو بياکتنه او تدوين.

۱) د اصولو او قوانينو بشپړ تطبيق.

۲) د اصولو او قوانينو له تطبيق څخه څارنه.

۹) له اکاډميکو او غيراکاډميکو بنسټونو سره د اړيکو توسعه او ښه والی.

۱) د اړيکو د اغېزمن مديريت لپاره د يو ټيم رامنځته کول او له لارې يې اړيکو ته ځانګړې پاملرنه.

۲) د توأميتونو او تفاهيم ليکونو لاسليکولو لپاره د يوې منطقي او معقولې طرحې جوړول.

۳) د زده کړو کيفيت ښه والي لپاره د علمي سفرونو زمينه برابرول.

۱۰) لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او د استعدادونو د ودې او پرمختيا لپاره محصلانو ته د خدماتو عرضه.

د پورتنيو موخو د تحقق په پار غزني پوهنتون لاندې برنامې په پلان کې لري:

۱) د فعاليتونو توسعې له امله د بشري سرچينو وده.

۲) د ټولنې د اړتياوو په پام کې نيولو سره د نوو پوهنځيو، څانګو او برنامو رامنځته کول.

۳) د بشري شرچينو د ودې په پايله کې د محصلينو په جذب کې زياتوالی راوستل.

## د چاپېریال د عواملو تحلیل

په دې برخه کې غزني پوهنتون غواړي ټول هغه چاپېریالي عوامل وپېژني او تحلیل کړي، کوم چې په یو شکل د اشکالو سره د غزني پوهنتون په فعالیتونو باندې اغېزې لري. دا عوامل به په دوو جلا جلا برخو کې د کورني چاپېریال او بهرني چاپېریال عواملو تر چتر لاندې مطالعه او تحلیل کړل شي.

## د کورني چاپېریال د عواملو تحلیل

کولای شو په کورني چاپېریال کې له لاندې عواملو (قوتونو او ضعفونو) څخه، د غزني پوهنتون د فعالیتونو اغېزمنوونکو عواملو په توګه یادونه وکړو:

**د قوتونو برخه:**

۱) د علمي څېړنو او مجلې معاونیت شتون

۲) د متخصصو علمي کادر غړو او پیاوړو محصلینو شتون

۳) د لابراتوارونو شتون

۴) د خلاقو او نوښتګرو بشري سرچینو شتون

۵) د برښنایي سیستم او وسایلو شتون

۶) له اداري فساد سره د مبارزې لپاره ټینګه ژمنتیا

۷) د عامه خبراوي او اصلاحي پروګرامونو دوام

۸) د کورني تفتیش کمېټې ته د ځانګړو صلاحیتونو ورکړه

۹) تحصیلي نصاب سره د علمي کادر غړو ښه بلدتیا

۱۰) د معاصرو علمي موضوعاتو سره د علمي کادر غړو بلدتیا

۱۱) د مختلفو تحصیلي نصابونو اړوند کافي تجربو شتون

۱۲) د دوهم پړاو اعتبار شتون

۱۳) د کیفیت لوړاوي لپاره د مناسب بستر شتون

۱۴) د معلوماتي ټکنالوژۍ مجهز مرکز شتون

۱۵) د پیاوړي ټکنالوژیکي ټیم شتون

۱۶) د منظمې برښنایي انرژۍ شتون

۱۷) د پوهنتون په چاپېر د محافظتي دیوال شتون

۱۸) د کافي ساحې شتون

۱۹) د مسلکي انکشاف فعاله مرکز شتون

۲۰) د روزل شویو متخصصینو شتون

۲۱) له مختلفو بنسټونو سره د توأمیتونو او تفاهم لیکونو شتون

۲۲) د بریالي مشارکتي مدیریت او رهبرۍ فضا

۲۳) ګاونډیو ولایاتو ته د غزني پوهنتون د موقعیت نږدېوالی

**د ضعفونو برخه:**

۱) د څېړنو ترسره کولو نه لېوالتیا

۲) په فراملي معیارونو د څېړنو ترسره کولو د وړتیا کموالی

۳) د معیاري او عصري کتابتون نشتون

۴) خلاقیت او نوښت اړوند معلوماتې تشې شتون او نه عملي کول

۵) دخلاقیت او نوښت د ودې لپاره د ځانګړو پروګرامونو نه شتون

۶) د شته تحصیلي نصاب زوړوالی

۷) په غیرمؤثر شکل د شته نصاب تطبیق

۸) دکیفیت لوړاوي له معیارونو سره د ځینو منسوبینو نه بلدتیا

۹) د کیفیت لوړاوي په برخه کې د جدیت نشتون

۱۰) د کیفیت لوړاوي په برخه کې د خپلمنځي سیالۍ نشتون

۱۱) د برښنایي زده کړو په اغېزو او سیستم باندې د باور نشتون

۱۲) د تدریسي او اداري خونو تر منځ د واټن زیاتوالی

۱۳) د نیم کاره تعمیرونو شتون

۱۴) د څښاك اوبو د منظم سیستم نشتون

۱۵) د معیاري ټولګیو نشتون

۱۶) د ظرفیت لوړونې په برخه کې د اغېزمنو فعالیتونو نه شتون

۱۷) د شته بشري ظرفیتونو له وړتیاوو څخه د اغېزمنې استفادې نه شتون

۱۸) د ظرفیتونو له لاسه ورکول

۱۹) له اکاډمیکو او غیراکاډمیکو بنسټونو سره ناکافي اړیکې

۲۰) د زده کړو لپاره د اړینو تجهیزاتو کمښت

۲۱) د زیاترو پوهنځیو لپاره د ودانیو نشتون

۲۲) په پوهنتون کې د اوبو د کافي سرچینو نشتون

۲۳) د جذب لپاره د کم ظرفیت ورکړه

## د کورني چاپېریال د عواملو د ارزونې مټرکس (IFEM)

د کورنیو عواملو د تحلیل مټرکس د (قوتونو او ضعفونو) د تحلیل او ارزونې لپاره ترتیبیږي.

د کورنیو عواملو د مټرکس د ترتیب لپاره، په ترتیب سره لاندې پړاوونه طی شوي دي:

۱) لومړی ستون، شاخصونو ته ځانګړی شوی دی. په دې ستون کې د ټولو هغو شاخصونو یادونه شوې ده چې پر بنسټ یې له چاپېریال سره د اغېزمن تعامل په پار د پوهنتون د قوت او ضعف ټکي مشخصیږي. په اصل کې دا شاخصونه د معلوماتو راټولولو بنسټونه ګڼل کیږي او له متشتتو معلوماتو راټولولو څخه مو منع کوي.

۲) دوهم ستون، ردیف ته ځانګړی شوی دی. په دې ستون کې د قوتونو او ضعفونو کوډبندي شوې ده او مونږ ته د کورني چاپېریال د ستراتیژیکو عواملو (قوتونو او ضعفونو) عددي ترتیب ښیي.

۳) درېیم ستون، د ستراتیژیکو عواملو کیفي یادونې ته ځانګړی شوی دی. دلته له ټولو هغو عواملو څخه یادونه شوې ده چې د ټاکل شوو شاخصونو پر بنسټ د پوهنتون د بریا/ ماتې په برخلیک ټاکنه کې رول لوبوي. د دې عواملو په موندنه کې د متخصص ټیم د نظریاتو او اندونو څخه تر ګټنې ور ها خوا، د ذیعلاقه وګړو، ډلو او بنسټونو نظریات او تحلیلونه هم په پام کې نیول شوي دي.

۴) څلورم ستون، د قوتونو او ضعفونو د وزن یا اهمیت ټاکلو او محاسبې ته ځانګړی شوی دی. د وزن یا اهمیت د ضریب ټاکلو لپاره د متخصصینو له نظریاتو څخه ګټه پورته شوې ده. دا ضریب د هر عامل د اهمیت په پام کې نیولو سره له (۰ — ۱) پورې قېمتونه اخلي؛ په دې ترتیب سره چې (۰) بې اهمیته او (۱) ډېر اهمیت لرونکی عامل ښیي. د دې ستون ټولګه باید له (۱) سره مساوي شی.

۵) پنځم ستون، د قوتونو او ضعفونو د رتبې یا امتیاز ټاکلو لپاره ځانګړی شوی دی. د قوت ټکي (۴) او (۳) امتیازونه اخیستلای شي او د ضعف ټکي (۲) او (۱) امتیازونه اخیستلای شي؛ په دې ترتیب سره چې (۴) امتیاز ډېر قوي، (۳) امتیاز قوي، (۲) امتیاز ضعیف او (۱) امتیاز ډېر ضعیف عوامل ښیي.

۶) شپږم ستون، د ستراتیژیکو عواملو د موزون امتیاز ټاکلو لپاره ځانګړی شوی دی. د هر عامل موزون امتیاز، د هغه د اهمیت ضریب او عامل د امتیاز د ضرب حاصل دی. دا برخه د پوهنتون لپاره د هر عامل امتیاز ښیي. د دې ستون د امتیازاتو ټولګه د قوت او ضعف پر بنسټ د پوهنتون نهایي امتیاز ښودونکې ده. که چېرې په دې مترکس کې نهایي نمره تر (۲،۵) عدد کمه وي، نو د ضعفونو تله تر قوتونو درنده وي، مګر که چېرې نهایي نمره تر (۲،۵) عدد لوړه وي، نو د قوتونو تله تر ضعفونو درنده وي. البته باید یاده کړو چې د یادو نمرو حداقل (۱)، حداکثر (۴) او اوسط (۲،۵) دی.

(۱۰) جدول: د کورنیو عواملو (قوتونو او ضعفونو) د تحلیل مترکس (IFEM)

| شاخص | ردیف | د قوت/ ضعف ټکي | وزن (W) | رتبه (R) | وزني امتیاز (WR) |
|---|---|---|---|---|---|
| | | **د قوت ټکي** | | | |
| علمي څېړنه | S۱ | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت شتون | ۰،۰۲۸ | ۴ | ۰،۱۱۲ |
| | S۲ | د متخصصو علمي کادر غړو او پیاوړو محصلینو شتون | ۰،۰۲۵ | ۳ | ۰،۰۷۵ |
| | S۳ | د لابراتوارونو شتون | ۰،۰۲۶ | ۴ | ۰،۱۰۴ |
| خلاقیت او نوښت | S٤ | د خلاقو او نوښتګرو بشري سرچینو شتون | ۰،۰۲۴ | ۴ | ۰،۰۹۶ |
| فساد سره مبارزه | S٥ | د برښنایي سیستم او وسایلو شتون | ۰،۰۲۴ | ۴ | ۰،۰۹۶ |
| | S٦ | له اداري فساد سره د مبارزې لپاره ټینګه ژمنتیا | ۰،۰۲۲ | ۴ | ۰،۰۸۸ |
| | S۷ | د عامه خبراوي او اصلاحي پروګرامونو دوام | ۰،۰۲۵ | ۳ | ۰،۰۷۵ |
| | S۸ | د کورني تفتیش کمېټې ته د ځانګړو صلاحیتونو ورکړه | ۰،۰۱۱ | ۴ | ۰،۰۴۴ |
| تحصیلي نصاب | S۹ | تحصیلي نصاب سره د علمي کادر غړو ښه بلدتیا | ۰،۰۱۹ | ۳ | ۰،۰۵۷ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | S۱۰ | د معاصرو علمي موضوعاتو سره د علمي کادر غړو بلدتيا | ۰،۰۲۸ | ۴ | ۰،۱۱۲ |
| | S۱۱ | د مختلفو تحصيلي نصابونو اړوند کافي تجربو شتون | ۰،۰۲۲ | ۳ | ۰،۰۶۶ |
| کیفیت لوړاوی | S۱۲ | د دوهم پړاو اعتبار شتون | ۰،۰۲۵ | ۴ | ۰،۱ |
| | S۱۳ | د کیفیت لوړاوي لپاره د مناسب بستر شتون | ۰،۰۱۶ | ۴ | ۰،۰۶۴ |
| برښنايي زده کړې | S۱۴ | د معلوماتي ټکنالوژۍ مجهز مرکز شتون | ۰،۰۲۸ | ۴ | ۰،۱۱۲ |
| | S۱۵ | د پياوړي ټکنالوژيکي ټيم شتون | ۰،۰۲۵ | ۴ | ۰،۱ |
| بيخ بنسټونه | S۱۶ | د منظمې برښنايي انرژۍ شتون | ۰،۰۲۲ | ۳ | ۰،۰۶۶ |
| | S۱۷ | د پوهنتون په چاپېر د محافظتي ديوال شتون | ۰،۰۱۱ | ۳ | ۰،۰۳۳ |
| | S۱۸ | د کافي ساحې شتون | ۰،۰۲۶ | ۴ | ۰،۱۰۴ |
| ظرفيت لوړونه | S۱۹ | د مسلکي انکشاف فعاله مرکز شتون | ۰،۰۲۸ | ۴ | ۰،۱۱۲ |
| | S۲۰ | د روزل شويو متخصصينو شتون | ۰،۰۲۸ | ۴ | ۰،۱۱۲ |
| اړيکې | S۲۱ | له مختلفو بنسټونو سره د توأميتونو او تفاهم ليکونو شتون | ۰،۰۱۲ | ۳ | ۰،۰۳۶ |
| | S۲۲ | د برياليي مشارکتي مديريت او رهبرۍ فضا | ۰،۰۳۱ | ۴ | ۰،۱۲۴ |
| زده کړو ته لاسرسی | S۲۳ | ګاونډيو ولاياتو ته د غزني پوهنتون د موقعيت نږدېوالی | ۰،۰۲۹ | ۳ | ۰،۰۸۷ |
| | | **ټولګه** | ۰،۵۳۵ | | ۱،۹۷۵ |
| | | **د ضعف ټکي** | | | |
| علمي څېړنه | W۱ | د څېړنو ترسره کولو نه لېوالتيا | ۰،۰۱۹ | ۲ | ۰،۰۳۸ |
| | W۲ | په فراملي معيارونو د څېړنو ترسره کولو د وړتيا کموالی | ۰،۰۲۷ | ۱ | ۰،۰۲۷ |
| | W۳ | د معياري او عصري کتابتون نشتون | ۰،۰۲۲ | ۱ | ۰،۰۲۲ |
| خلاقيت او نوښت | W۴ | خلاقيت او نوښت اړوند معلوماتي تشې شتون او نه عملي کول | ۰،۰۳۱ | ۱ | ۰،۰۳۱ |
| ۱ | د علمي څېړنو پر مخښتیا او نوښت وده | د ولایت، هیواد او د امکان تر پوله په نړیواله کچه د څېړنیزو اړیکو پراخول | د لاسلیک شویو تفاهم لیکونو شمېر | ۵ | بشري او مالي سرچینې | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت | د لوړو زده کړو او بهرنیو چارو وزارتونه | ۱۴۰۷/۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۱ | ۱ | ۲ | ۱۰۰۰۰۰؋ | ۰ | له اړوندو اړخونو سره د اړیکو استحکام په پار ممکنه سفرونه کول | د څېړنو په ترسراوي کې د نورو له تجربو او مرستو څخه برخمنتیا او پر مټ يې د څېړنیز بهیر پیاوړتیا | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | | د استادانو او محصلینو د څېړنیزو ظرفیتونو اوچتوالي لپاره د ظرفیت لوړونې پروګرامونو په لاره اچول | د تطبیق شویو ورکشاپونو شمېر | ۲ | بشري او مالي سرچینې | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت او د لوړو زده کړو بنسټونه | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۰ | ۰ | ۱ | ۴۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د پروګرامونو تطبیق اړوندو لګښتونو ورکړه | د څېړنیزو ظرفیتونو توسعې له لارې د څېړنو پرمختیا سره مرسته | |
| ۳ | | د پوهنتون د کتابتون لپاره د ورځې د اړتیا مطابق کتابونو پېرودنه او د الکترونیکي کتابتون غني کول | د پېرودل شویو کتابونو شمېر | ۴۰۰ | مالي سرچینې | د مالي او اداري چارو معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۳۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د کتابونو پېرودلو اړوندو لګښتونو ورکړه | د علمي څېړنو ترسره کولو لپاره د آسانتیاوو برابرولو له لارې د علمي څېړنو پراختیا او پرمختیا | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | | د علمي– څېړنیزو مقالو بشپړول | د بشپړو شویو مقالو شمېر | ۱۶۰ | بشري او مالي سرچینې | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت او د لوړو زده کړو بنسټونه | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۴۰ | ۴۰ | ۴۰ | ۴۰ | ۳۱۰۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د څېړنو لارښود استادانو ته د لارښوونې د حق الزحمې ورکړه او له ترفیعي آثارو پرته آثارو ته د حق الزحمې ورکړه | د څېړنو په برخه کې د تجربې زیاتوالی او د علومو په تولید او د ستونزو په حل کې ونډه اخیستنه | |
| ۵ | | په ملي او د پوهنتون په کچه د علمي څېړنیزو سمینارونو د ورکړې لپاره تابیا نیول او وړاندې کول | د وړاندې شویو سیمینارونو شمېر | ۷۰ | بشري او مالي سرچینې | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت او د لوړو زده کړو بنسټونه | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۷ | ۱۸ | ۱۷ | ۱۸ | ۲۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د هېواد په کچه سیمینار ورکړې ګډون کوونکو ته د خوړن توکو او استوګنې آسانتیاوو برابرول | په سیمه ییزه کچه د څېړنیز خوځښت رامنځته کول، له اړوندو واحدونو سره د څېړنیزو پایلو شریکول | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۶ | | د له وړاندې ټاکل شوو معیارونو پر بنسټ د پوهنتون د علمي کادر غړو او محصلینو د څېړنیزو چارو ارزونه او د درېیو غوره څېړونکو ټاکنه او د مادي/ معنوي امتیاز ورکړه | د ارزونې د دفعو شمېر | ۲ | مالي سرچینې | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۴۱۰۷/۰۵/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۹/۲۹ | ۱۴۰۷/۰۹/۳۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ۰ | ۳۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د پوهنتون په کچه درېیو غوره څېړونکو ته د مادي امتیاز ورکړه | د څېړنیزي روحیې غبنتلتیا، څېړنو ته د لېوالتیا اوچتوالی او د څېړنیز کلتور ترویج | |
| ۷ | | د علمي کادر غړو او محصلینو لپاره د خلاقیت او نوښت زده کړې د ورکشاپونو دایرول | د دایر شویو ورکشاپونو شمېر | ۲ | بشري او فزیکي سرچینې | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۴۱۰۷/۰۲/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۲/۱۵ | ۱۴۰۷/۰۲/۲۰ | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | پروګرامونه د کورنیو متخصصینو له لوري تطبیق کېږي؛ ځکه مالي سرچینو ته اړتیا نه لیدل کېږي | د خلاقیت او نوښت پروسو د عملي کولو لپاره د تیوریکي پوهې خپلول | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٨ | | د نوښت پالونکو تولیدي بنسټونو سره د تفاهیم لیکونو لاسلیك له لارې د خپلو استادانو او محصلینو د خلاقیت او نوښت د وړتیاوو پیاوړتیا | د لاسلیك شویو تفاهم لیکونو شمېر | ۴ | بشري او مالي سرچینې | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱۵۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د نوښتونو لیدنې لپاره د ممکنه سفرونو اړوند لګښتونه | د کورني تولیدي سکتور پیاوړتیا او د هېواد د پر ځان بسیاینې پر لور پیاوړی ګام اوچتول | |
| ٩ | | د خلاقیت او نوښت د پرمختګ لپاره د ځانګړو طرحو جوړول او د عملي کولو لپاره یې له مختلفو اړخونو سره ګډ کار کول | د بشپړو شویو طرحو شمېر | ۱ | بشري سرچینې | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۵/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۵/۱۵ | ۱۴۰۷/۰۵/۲۰ | ۰ | ۱۰۰٪ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ځانګړو لګښتونو ته اړتیا نه لیدل کېږي | د کاري زمینو برابرول او له راکدو سرچینو څخه ګټنه | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | د اداري او رهبری د اغېزمنتیا زیاتول او په سیستماتیکه توګه د فساد بشپړه محو | د یو منظم پلان له مخې د اداري فساد څارنه او د له منځه وړلو لپاره یې د خبراوي پروګرامونو تطبیق او د انضباطي ګامونو اوچتول | د په لار اچول شویو پروګرامونو شمېر | ۲ | بشري سرچینې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت او عدلي ارګانونه | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | دا چاره د منسوبینو له عادي مسئولیتونو څخه ګڼل کېږي او یوازې دفتر، تجهیزاتو او قرطاسیې ته اړتیا لیدل کېږي | د سرچینو له اتلاف او ضیاع څخه مخنیوی او د نامشروع چارو څخه مخنیوی |
| ۱۱ | | د پوهنتون د رهبری په کچه د حساب ورکړې بشپړول | د راپورونو ورکړې د دفعو شمېر | ۱ | بشري سرچینې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۱۲/۱۵ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۷ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | دا چاره د منسوبینو له عادي مسئولیتونو څخه ګڼل کېږي او یوازې قرطاسیې ته اړتیا لیدل کېږي | د سپارل شوو مسئولیتونو د غوره اداینې په پار د یو سیستم پیاوړتیا او له ناغېړی څخه د مخنیوي کلتور وده | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | | د پوهنتون د منسوبینو له ظرفیتونو څخه د اعظمي ګټې لپاره د یوې ځانګړې طرحې ترتیب او تطبیق | د ترتیب شویو طرحو شمېر | ۱ | بشري سرچینې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۵/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۵/۱۵ | ۱۴۰۷/۰۵/۲۰ | ۰ | ۱۰۰٪ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | دا چاره د پوهنتون د لوړې کچې مدیریت له ورځنیو مسئولیتونو څخه ګڼل کیږي او ځانګړې سرچینې نه غواړي | د بشري سرچینو له ظرفیتونو څخه د بشپړې ګټې له لارې په کم وخت او کمو لګښتونو سره د ټاکل شوو موخو ترلاسه کول |
| ۱۳ | | د یو منظم او معقول پلان له مخې د ذیعلاقه ډلو سره نږدې پاتې کېدل او د هغوی د مادي او معنوي مرستو جلبول | د لاسلیک شویو هوکړه لیکونو شمېر | ۴ | بشري او فزیکي سرچینې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت او د غزني ولایتي اداري | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۳۵۰۰۰ ؋ | ۰ | له مرسته کوونکو سره د مذاکرې په پار د سفر ممکنه لګښتونه | په لوړو زده کړو وزارت باندې د مالي فشار کموالی او د پوهنتون د بېخ بنسټونو او ظرفیتونو وده |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | د نصاب بياکتنه او د پرمختيا لپاره يې د مقدماتو برابرول | د ټولنې د اړتياوو او توقعاتو ارزونه او تحليل او د تحصيلی نصاب پرمختيا لپاره يې تيارول | د ارزونې د دفعو شمېر | ۱ | بشري، مالي او فزيکي سرچينې | د علمي چارو معاونيت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۵/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۵/۲۰ | ۱۴۰۷/۰۵/۲۵ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۳۵۰۰۰ ؋ | ۰ | د اغېزو سنجش په پار د ترانسپورتي لګښتونو ورکړه | د ټولنې شرايطو او فارغېدونکو محصلينو د کاري وړتياوو تر منځ د تطابق سنجش | |
| ۱۵ | | د پوهنتون د صلاحيت په اړانه کې د تحصيلي نصاب د نوي کولو د پړاووني طی کول او له لوړو زده کړو وزارت سره شريکول | د نصاب پرمختيا سلنه | ۱۰٪ | بشري سرچينې | د علمي چارو معاونيت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۰ | ۰ | ځانګړو لګښتونو ته اړتيا نه ليدل کېږي | د تحصيلي نصاب نوي کولو لپاره د چوکاټ تيارول | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | | د پایلو پر بنسټ او شاګرد محوری میتودولوژی منظم او سیستماتیک تطبیق | د شاګرد محوری د تطبیق سلنه | ۱۰۰٪ | بشري او فزیکي سرچینې | مالي، علمي او د محصلانو چارو معاونیتونه | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۰ | ۰ | ځانګړو لګښتونو ته اړتیا نه لیدل کېږي | د شاګرد محوره زده کړو پیاوړتیا په پایله کې د مفاهیمو ژوره او واقعي زده کړه | |
| ۱۷ | | د یو منظم پلان له مخې له درسي مفرداتو سره د تدریس شوو موضوعاتو پرتله کول | د پرتلې د دفعو شمېر | ۲ | بشري سرچینې | د علمي چارو معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۳/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۸/۲۹ | ۱۴۰۷/۰۸/۳۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ځانګړو لګښتونو ته اړتیا نه لیدل کېږي | د هېواد په کچه د یو ډول علمي موضوعاتو زده کړه او د مختلفو ازموینو تر عهدې وتل | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | د کیفیت د کچې اوچتول او ساتل | د پوهنتون ټولو منسوبینو ته د کیفیت لوړاوي د ټولو معیارونو بشپړه توضیح | د وړاندې شویو سیمینارونو شمېر | ۱ | بشري سرچینې | د علمي چارو معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ځانګړو لګښتونو ته اړتیا نه لیدل کیږي | د کیفیت لوړاوي د معیارونو اړوند کافي معلوماتو ترلاسه کول او له لارې یې د یادو معیارونو د تطبیق آساني | |
| ۱۹ | | د منظمو پلانونو د ترتیب او تطبیق له لارې په ټولو کړنو کې د کیفیت د معیارونو په پام کې نیول | د کیفیت د معیارونو د تطبیق سلنه | ۱۰۰٪ | بشري فزیکي او مالي سرچینې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۱۵۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د ځینو معیارونو د تطبیق مالي لګښتونه | د لوړ کیفیت لرونکو چوپړتیاوو وړاندې کولو له لارې د اعتبار د کچې اوچتوالی | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٢٠ | | د کال په پای کې د پوهنتون په کچه ترسره کړې کړنې ارزول او علمي شورا ته يې د راپور ورکړه | د ارزونې د دفعو شمېر | ١ | بشري سرچينې | علمي چارو معاونيت | د لوړو زده کړو وزارت | ١۴٠٧/١٢/٠١ | ١۴٠٧/١٢/٢٠ | ١۴٠٧/١٢/٢۵ | ٠ | ٠ | ٠ | ١ | ٠ | ٠ | ځانګړو لګښتونو ته اړتيا نه ليدل کېږي | د کيفيت لوړاوي د معيارونو د تطبيق سنجش او د اصلاحي ګامونو پورته | |
| ٢١ | | د کيفيت لوړاوي د معيارونو د تطبيق په لور د پياوړو ګامونو اوچتول او لوړو زده کړو وزارت ته يې د پرمختګ راپور ورکړه | د کيفيت د معيارونو د تطبيق سلنه | ١٠٠٪ | مالي، فزيکي او بشري سرچينې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ١۴٠٧/١٢/٠١ | ١۴٠٧/١٢/٢٠ | ١۴٠٧/١٢/٢۵ | ٠٪ | ٠٪ | ٠٪ | ١٠٠٪ | ١۵٠٠٠٠ ؋ | ٠ | د ځينو معيارونو تطبيق اړوند لګښتونه | د پوهنتون د کړنو د اغېزمنتيا او باور د کچې لوړوالی او له مخې يې د معنوي ارزښت ترلاسه کول | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٢٢ | د برښنايي– تحصيلي چوپړتياوو د اغېزمنتيا لوړول | د برښنايي زده کړو د شته سيستم پرمختيا او تطبيق | د سيستم د پرمختيا او تطبيق سلنه | ٢٠٪ | بشري، مالي او فزيکي سرچينې | د علمي چارو، محصلانو چارو او علمي څېړنو او مجلې معاونيتونه | د لوړو زده کړو وزارت | ١۴٠٧/٠١/٠١ | ١۴٠٧/١٢/٢٩ | ١۴٠٧/١٢/٢٩ | ٢٥٪ | ٢٥٪ | ٢٥٪ | ٢٥٪ | ١٥٠٠٠٠ ؋ | ٠ | د سيستم پرمختيا لګښتونه | د برښنايي زده کړو تطبيق او پراختيا |
| ٢٣ | | د برښنايي زده کړو اغېزمنتيا ثابتول او په اړه يې د ذهنونو روښانه کول | د وړاندې کېدونکو ورکشاپونو شمېر | ۴ | بشري او فزيکي سرچينې | محصلانو چارو معاونيت | د لوړو زده کړو وزارت | ١۴٠٧/٠١/٠١ | ١۴٠٧/١٢/٢٩ | ١۴٠٧/١٢/٢٩ | ١ | ١ | ١ | ١ | ٠ | ٠ | ځانګړو لګښتونو ته اړتيا نه ليدل کېږي | د حضوري او برښنايي زده کړو تر منځ د نږدې اړيکو ساتلو له مخې د زده کړو د کيفيت اوچتوالی |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴ | د تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کولو لپاره د ټولو آسانتیاوو او امکاناتو برابرول | د عملي او معقولو مالي پلانونو جوړولو له لارې د زیاتې اندازې بودجې او امکاناتو ترلاسه کول | د بودجې د زیاتوالي سلنه | ۲۰٪ | بشري سرچینې | مالي او اداري چارو معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۱۲/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۰٪ | ۰٪ | ۰٪ | ۱۰۰٪ | ۰ | ۰ | ځانګړو لګښتونو ته اړتیا نه لیدل کیږي | د ببخ بنسټونو توسعه او له لارې یې د خدماتو د لمنې پراختیا او پرمختیا | |
| ۲۵ | | د شرعیات پوهنځي د تعمیر جوړول | د تعمیر چارو بشپړتیا سلنه | ۱۰۰٪ | مالي سرچینې | د پوهنتون رهبري، په ځانګړې توګه مالي او اداري چارو معاونیت | د لوړو زده کړو او مالیې وزارتونه | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۰/۰۵ | ۱۴۰۷/۱۰/۱۰ | ۳۰٪ | ۳۰٪ | ۳۰٪ | ۱۰٪ | ۰ | ۶۷۱۰۰۰۰۰ ؋ | د ودانۍ جوړولو د لګښتونو ورکړه | د ببخ بنسټونو پراختیا او د کیفیت لوړاوي د معیارونو بشپړتیا | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۶ | | د اقتصاد پوهنځي د تعمیر جوړول | د تعمیر د چارو بشپړتیا سلنه | ۱۰۰٪ | مالي سرچینې | د پوهنتون رهبري، خاصتاً د مالي او اداري چارو معاونیت | د لوړو زده کړو او مالیې وزارتونه | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۰/۰۵ | ۱۴۰۷/۱۰/۱۰ | ۳۰٪ | ۳۰٪ | ۳۰٪ | ۱۰٪ | ۰ | ۸۰۸۶۰۰۰ ؋ | د ودانی جوړولو لګښتونه | د بیخ بنسټونو پراختیا او د کیفیت لوړاوي د معیارونو بشپړتیا | |
| ۲۷ | | د (۳۰۰۰۰) متر مربع پارک او شنې ساحې رغونه | د پارک رغونې پرمختګ سلنه | ۲۰٪ | مالي سرچینې | د پوهنتون رهبري، خاصتاً د مالي او اداري چارو معاونیت | د لوړو زده کړو او مالیې وزارتونه | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۰/۰۵ | ۱۴۰۷/۱۰/۱۰ | ۳۰٪ | ۳۰٪ | ۳۰٪ | ۱۰٪ | ۱۲۰۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د پارک او شنې ساحې جوړېدو اړوند لګښتونه | د بیخ بنسټونو پراختیا او د کیفیت لوړاوي د معیارونو بشپړتیا | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | | د پوهنتون د اړتیا وړ تجهیزاتو پېرودنه | د تجهیزاتو د تهیې پرمختګ سلنه | ۲۰٪ | مالي سرچینې | د مالي او اداري چارو معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۲۵٪ | ۱۰۰۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د تجهیزاتو تدارك اړوندو لګښتونو ورکړه | د چارو ترسره کولو او موخو تحقق په پار د اړینو توکو ترلاسه کول او له لارې یې د کړنو د درېدو مخنیوی | |
| ۲۹ | | د علمي څېړنو او مجلې معاونیت لپاره د یو عراده لوکسل ډوله موټر پېرودنه | د پېرودل شویو موټرونو شمېر | ۱ | مالي سرچینې | د مالي او اداري چارو معاونیت | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۵/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۵/۲۹ | ۱۴۰۷/۰۵/۳۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۴۰۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د موټر اخیستو د لګښتونو ورکړه | د ترانسپورتي آسانتیاوو رامنځته کېدو له وجې دندې ته پر خپل وخت رسېدل او کاري هڅونه | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | د بشري سرچینو د استعدادونو پرمختیا | دوکتورا او ماسټرۍ برنامو ته د استادانو او کارمندانو معرفي کول | دوکتورا او ماسټرۍ ته د معرفي شویو استادانو او کارمندانو شمېر | ۳۶ | مالي سرچینې | د علمي او مالي او اداري چارو معاونیتونه | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۰ | ۱۸۰۰۰۰۰۰ ؋ | د سکالرشیپ اړوندو لګښتونو او معاشاتو ورکړه | د غوره کیفیت تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کول او تحصیلي ځان بسیاینه | |
| ۳۱ | | د پوهنتون د منسوبینو لپاره د مهارتونو د اوچتوالیلنډمهاله پروګرامونو تطبیق | د په لار اچول شویو پروګرامونو شمېر | ۴ | بشري او مالي سرچینې | علمي چارو او علمي څېړنو معاونیتونه | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱۵۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د روزونکو د حق الزحمې او پروګرامونو د لګښتونو ورکړه | د چارو ترسره کولو لپاره د وړتیاوو او مهارتونو وده او بالآخره د چارو په کیفیت کې ښه والی رامنځته کېدل | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | | په منظمه توګه د استادانو د علمي ترفیعاتو د پروسې د پړاوونو طی کول | د ترفیعاتو د پروسس شویو دوسیو شمېر | ۱۵ | مالي سرچینې | علمي چارو او علمي څېړنو معاونیتونه | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۴ | ۴ | ۴ | ۳ | ۳۰۰۰۰۰ ؋ | ۷۰۰۰۰۰ ؋ | د لاربښوونې د حق الزحمې او معاشاتو ورکړه | د فکري وړتیاوو لوړوالی او د تحصیلي چوپړتیاوو په کیفیت کې بې ساری بدلون رامنځته کېدل | |
| ۳۳ | د اړیکو د یو اغېزمن سیستم پلي کول او پیاوړتیا | له کورنیو او بهرنیو اړخونو سره د «ګټې- ګټې» ستراتیژی له مخې د رسمي او غیر رسمي اړیکو عیارول | د لاسلیک شویو تفاهیم لیکونو شمېر | ۴ | بشري سرچینې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۵۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د اړیکو ټینګولو په پار د ترانسپورټي لګښتونو ورکړه | په ټوله کې د هېواد او په ځانګړې توګه د پوهنتون د پرمختیا لپاره ګډ کار کول | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | | د مادي او معنوي مرستو د جلب لپاره د معقولو هوکړه لیکونو لاسلیکول او تطبیق | د لاسلیك شویو هوکړه لیکونو شمېر | ۴ | مالي سرچینې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۱/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۵۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د هوکړه لیکونو لاسلیک په پار د ترانسپورتي لګښتونو ورکړه | د مختلفو لورو د تجربو او مرستو څخه په ګټنې سره د چارو په ترسره کولو کې د آسانتیا احساس او ملاتړ | |
| ۳۵ | د استعدادونو د ودې او پرمختیا په پار د معیاري خدماتو وړاندې کول او لوړو زده کړو ته د عادلانه لاسرسی لپاره زمینه برابرول | د کادري او اداري بستونو ترلاسه کول | د ترلاسه شویو بستونو شمېر | ۵۰ | مالي سرچینې | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۱۲/۰۱ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۷/۱۲/۲۹ | ۰ | ۰ | ۰ | ۵۰ | ۱۹۰۸۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د بشري سرچینو د معاشاتو ورکړې لګښتونه | د کاري حجم مناسبوالی او له امله یې د تخصص کچې اوچتوالی | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۶ | | د محصلینو په جذب کې زیاتوالی راوستل | د جذب زیاتوالي سلنه | ۵٪ | مالي او بشري سرچیني | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۵/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۶/۲۹ | ۱۴۰۷/۰۶/۳۰ | ۰ | ۱۰۰٪ | ۰ | ۰ | ۲۰۰۰۰۰ ؋ | ۰ | د ټولګیو د تجهیز د لګښتونو ورکړه | د هېواد د ځوانانو لپاره د لوړو زده کړو د فرصتونو زیاتوالی | دا لګښتونه د ۳۱ مې موخې یوه برخه ده |
| ۳۷ | | د محصلینو د مهارتونو او تجربو د زیاتوالي لپاره د ځانګړو پروګرامونو تطبیق | د په لار اچول شویو ورکشاپونو شمېر | ۲ | فزیکي سرچیني | د پوهنتون رهبري | د لوړو زده کړو وزارت | ۱۴۰۷/۰۴/۰۱ | ۱۴۰۷/۰۹/۲۹ | ۱۴۰۷/۰۹/۳۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | دا کړنه کومو ځانګړو لګښتونو ورکړې ته اړتیا نه لري | د محصلینو د مهارتونو اوچتوالي له وجې د وزګارتیا د کچې کموالی او په کار موندنه کې آسانوالی | |

د پورتني جدول مطابق، د پایلو پر بنسټ د غزني پوهنتون د (۱۴۰۷) ل.ل کال عملیاتي پلان ترتیب او سم دی.

# بودجه بندي

د غزني پوهنتون د ستراتيژيک پلان د تطبيق او اړوندو کړنو د ترسراوي لپاره د لاندې پلان مطابق بودجې ته اړتيا ليدل کيږي.

| ګڼه | کړنې | واحد | اندازه | اړتيا وړ پانګه | د کړنو پلي کېدو وخت | | | | | تمويلوونکې اداره | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | ۱۴۰۳ ل.ل | ۱۴۰۴ ل.ل | ۱۴۰۵ ل.ل | ۱۴۰۶ ل.ل | ۱۴۰۷ ل.ل | | |
| **د بېخ بنسټونو اړوند** | | | | | | | | | | | |
| ۱ | د طب پوهنځي د تعمير د کار بشپړتيا | باب | ۱ | ۲۲۳۷۷۰۰۰ ؋ | √ | | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۲ | د نارينه وو د شپېغالي د خوړنځي د تعمير د کار بشپړتيا | باب | ۱ | ۵۲۲۵۶۱۸ ؋ | √ | | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۳ | د (۴) کيلومتره کورني سړک بنسټيزه جوړونه | کيلو متر | ۴ کيلومتره | ۷۴۷۷۴۸۰۰ ؋ | √ | | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۴ | د سپورتي جمنازيوم جوړونه | باب | ۱ | ۳۳۷۵۰۰۰۰ ؋ | √ | | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۵ | د شنې ساحې جوړونه | متر مربع | ۳۰۰۰۰ متر مربع | ۶۰۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۶ | يوه حلقه ژور څاه کيندل (له ټولو محلقاتو سره) | حلقه | ۱۲۰ متره | ۳۰۰۰۰۰ ؋ | √ | | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۷ | د پوهنتون د اداري بلاک جوړول | باب | ۱ | ۳۰۴۵۰۰۰۰ ؋ | | √ | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۸ | د اډيټوريم جوړول | باب | ۱ | ۴۴۹۳۵۰۰۰ ؋ | | √ | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۹ | د طب پوهنځي د ۱۰۰ بستريز کادري روغتون ودانۍ جوړول | باب | ۱ | ۶۷۷۶۰۰۰۰ ؋ | | √ | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۰ | د عامه اداري او پاليسي پوهنځي د تعمير جوړول | باب | ۱ | ۸۰۸۶۰۰۰۰ ؋ | | | √ | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۱ | د کتابخونې او انټرنټ مرکز د تعمير جوړول | باب | ۱ | ۴۴۶۲۵۰۰۰ ؋ | | | √ | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۲ | د ژبو او ادبياتو پوهنځي د تعمير جوړول | باب | ۱ | ۶۷۱۰۰۰۰۰ ؋ | | | | √ | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۳ | د ښوونې او روزنې پوهنځي د تعمير جوړول | باب | ۱ | ۶۷۱۰۰۰۰۰ ؋ | | | | √ | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۴ | د شرعيات پوهنځي د تعمير جوړول | باب | ۱ | ۶۷۱۰۰۰۰۰ ؋ | | | | | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۵ | د اقتصاد پوهنځي د تعمير جوړول | باب | ۱ | ۸۰۸۶۰۰۰۰ ؋ | | | | | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| | | د بېخ بنسټونو اړوند اړتيا وړ بودجې ټولګه | | | | | | | | ۶۹۳۲۱۷۴۱۸ ؋ | |
| | | د ظرفيت لوړونې اړوند | | | | | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | (۶) تنه استادان دوکتورا زده کړو لپاره استول | تن | ۶ | ۹۰۰۰۰۰۰ ؋ | √ | | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۲ | (۴) تنه استادان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۴ | ۳۰۰۰۰۰۰ ؋ | √ | | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۳ | (۲) تنه اداري کارمندان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۲ | ۱۵۰۰۰۰۰ ٪ | √ | | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۴ | (۱۲) تنه استادان دوکتورا زده کړو لپاره استول | تن | ۱۲ | ۱۸۰۰۰۰۰۰ ؋ | | √ | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۵ | (۸) تنه استادان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۸ | ۶۰۰۰۰۰۰ ؋ | | √ | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۶ | (۴) تنه اداري کارمندان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۴ | ۳۰۰۰۰۰۰ ؋ | | √ | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۷ | (۱۲) تنه استادان دوکتورا زده کړو لپاره استول | تن | ۱۲ | ۱۸۰۰۰۰۰۰ ؋ | | | √ | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۸ | (۸) تنه استادان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۸ | ۶۰۰۰۰۰۰ ؋ | | | √ | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۹ | (۴) تنه اداري کارمندان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۴ | ۳۰۰۰۰۰۰ ؋ | | | √ | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۰ | (۱۲) تنه استادان دوکتورا زده کړو لپاره استول | تن | ۱۲ | ۱۸۰۰۰۰۰۰ ؋ | | | | √ | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۱ | (۸) تنه استادان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۸ | ۶۰۰۰۰۰۰ ؋ | | | | √ | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۲ | (۴) تنه اداري کارمندان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۴ | ۳۰۰۰۰۰۰ ؋ | | | | √ | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۳ | (۱۸) تنه استادان دوکتورا زده کړو لپاره استول | تن | ۱۸ | ۲۷۰۰۰۰۰۰ ؋ | | | | | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۴ | (۱۲) تنه استادان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۱۲ | ۹۰۰۰۰۰۰ ؋ | | | | | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۵ | (۶) تنه اداري کارمندان ماسټرۍ زده کړو لپاره استول | تن | ۶ | ۴۵۰۰۰۰۰ ؋ | | | | | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۶ | د پوهنتون داخل کې د ظرفیت لوړونې د پروګرامونو تطبیق | پروګرام | ۲۵ | ۷۵۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۷ | د علمي ترفیعاتو د پروسې طی کول | ترفیع | | ۵۰۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| | | د ظرفیت لوړونې اړوند اړتیا وړ بودجې ټولګه | | | | | | | | ۱۴۰۷۵۰۰۰۰ ؋ | |
| | | متفرقه برخې اړوند | | | | | | | | | |
| ۱ | د څېړنیزو اړیکو پراخوالی | څېړنیزې اړیکې | اړخ | ۵۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۲ | د استادانو او محصلینو د څېړنیزو ظرفیتونو اوچتوالي پروګرام | پروګرام | ۱۰ | ۲۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۳ | د فزیکي کتابخونې غني کولو لپاره د کتابونو پېرودنه | ټوک | ۱۰۰۰ | ۶۵۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | د برښنايي کتابخونې جوړول | ويبسايټ | ۱ | ۱۰۰۰۰۰ ؋ | | √ | | | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۵ | د څېړنيزو/ تأليفي آثارو بشپړول | عنوان | ۵۰ | ۱۵۵۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۶ | د هېواد په کچه د علمي – څېړنيزو کنفرانسونو دايرول | کنفرانس | ۲ | ۴۰۰۰۰۰۰ ؋ | | √ | | √ | | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۷ | د پوهنتون په کچه د علمي - څېړنيزو کنفرانسونو دايرول | کنفرانس | ۳۵۰ | ۱۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۸ | پوهنتون په کچه دکال د درېيو غوره څېړونکو مادي هڅونه | هڅونه | ۳ | ۱۵۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۹ | نوښتګرو توليداتو ته د استادانو او محصلينو علمي سفرونه | سفر | ۱۵ | ۷۵۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۰ | د مرستو جلبولو په پار سفرونه ترسره کول | سفر | ۱۵ | ۱۷۵۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۱ | د تحصيلي نصاب د اغېزمنتيا ارزونه | ارزونه | ۱۵ | ۱۷۵۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۲ | د کيفيت لوړونې معيارونو تطبيق او اکاډميک اعتبار خپلول | کيفيت | | ۱۵۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۳ | د برښنايي زده کړو د اغېزمنتيا اوڅټول | اغېزمنتيا | | ۷۵۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۴ | د پوهنتون د اړتيا وړ تجهيزاتو تدارک | تجهيزات | | ۵۰۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۵ | د اړيکو توسعه | اړيکو اړخ | ۵۰ | ۲۵۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۶ | د توأميتونو لاسليک | توأميت | ۲۵ | ۲۵۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۷ | د (۱۵۰) کادري بستونو ترلاسه کول او د ګمارنې بشپړول | بست | ۱۵۰ | ۸۱۰۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۸ | د (۱۰۰) اداري بستونو ترلاسه کول او د ګمارنې بشپړول | بست | ۱۰۰ | ۱۴۴۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۱۹ | د څلورو معاونيتونو لپاره د ترانسپورتي وسايطو پېرودنه | عراده | ۴ | ۱۲۰۰۰۰۰ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| ۲۰ | نور | | | ۵۰۰۰۰۰ ؋ | √ | √ | √ | √ | √ | لوړو زده کړو وزارت | |
| | **د متفرقه برخې اړوند اړتيا وړ بودجې ټولګه** | | | | | | | | | ۱۲۷۱۵۰۰۰۰ ؋ | |
| | **د ستراتيژيک پلان د تطبيق لپاره د اړتيا وړ بودجې عمومي ټولګه** | | | | | | | | | ۹۶۱۱۱۷۴۱۸ ؋ | |
| | **نوټ: د پورته بودجوي پلان د ترتيب پر مهال د يو امريکايي ډالر پر افغانۍ د راکړې ورکړې نرخ (۱ = ۷۵)؛ يعنې يو امريکايي ډالر مساوي پنځه اويا افغانۍ محاسبه شوې دی.** | | | | | | | | | | |

## د ستراتیژۍ تطبیق

پوهنتون نه شي کولای یوازې د ستراتیژیک پلان تدوین له لارې خپلو ټاکل شوو موخو او نهایتاً مأموریت ته ورسیږي، بلکې د مأموریت او موخو ترلاسه کولو لپاره اړتیا لیدل کیږي چې ستراتیژیک پلان په بشپړ تدبیر سره تطبیق کړل شي. په همدې پار، غزني پوهنتون په پام کې لري چې خپلې ټاکل شوې ستراتیژیانې د ټر ټولو غوره او په موقع تطبیق په پار له خپلو ټولو واحدونو سره شریکې کړي او هر واحد یادو ستراتیژیانو ته په منظمه توګه د تطبیق جامه ور واغوندي.

د غزني پوهنتون د ستراتیژیانو تطبیق پروسه لاندې درې پړاوونه رانغاړي:

۱. د ستراتیژیانو د تطبیق لپاره زمینه برابرول،

۲. د ستراتیژیانو عملي کول،

۳. په کورنیو کړنلارو او پالیسیو کې بدلون راوستل.

**د ستراتیژیانو د تطبیق لپاره زمینه برابرول**

غزني پوهنتون په پام کې لري چې په دې برخه کې د ستراتیژیانو د غوره تطبیق لپاره زمینه برابره او آسانتیاوې رامنځته کړي، ترڅو د ستراتیژیانو د تطبیق پر مهال کومه جدي ننګونه رامنځته نه شي. غزني پوهنتون د خپلو ټاکل شویو ستراتیژیو د غوره تطبیق لپاره لاندې څلور ګامونه اوچتول غواړي:

۱) د پوهنتون په جوړښت او تشکیلاتو کې تغیر: غزني پوهنتون ژمن دی چې د سازمان ورکونې د اصولو له مخې د خپلو ټاکل شویو ستراتیژیو د غوره تحقق لپاره وخت په وخت د لزوم دید مطابق په خپل جوړښت او تشکیلاتو کې باهدفه تغیر راوړي.

۲) د مدیریتي سیستمونو او پروسو بدلون او سمون: غزني پوهنتون په پام کې لري چې د خپلو ستراتیژیکو موخو ترلاسه کولو لپاره د اغېزمن مدیریت په چوکاټ کې د وخت د غوښتنو په پام کې نیولو سره په مدیریتي سیستمونو او پروسو کې مطلوب تغیر راولي او له دې لارې د اهدافو د تحقق چارې ساده او واقعي وګرځي.

۳) د پوهنتون د رسمیت ښه والي لپاره پیشنهادي طرح: غزني پوهنتون به په خپل ټول توان سره کوښښ وکړي چې د دې ستراتیژیک پلان تطبیق او نورو اغېزمنو کړنو ترسره کولو له لارې د سیمې له اکاډمیکو معیارونو سره ځان برابر کړي.

۴) د پوهنتون په رهبري او مدیریتي سبک کې تغیر: غزني پوهنتون به کوښښ وکړي چې د خپلې رهبرۍ او مدیت سبک د علمي اصولو په چوکاټ کې برابر او د یو اغېزمن سبک خپلولو له لارې خپلو ستراتیژیکو موخو ته د عمل جامه ور واغوندي.

په لاندې توګه د غزني پوهنتون لپاره ټاکل شوو ستراتیژیانو لنډ ارزښت او اړوندې کړنلارې تشریح کیږي.

دا چې په علمي بڼه د څېړنو ترسره کولو له لارې د مسائلو علمي حل او علم تولید او تر څنګ یې د نوښتونو پراختیا او پرمختیا له لارې د بشریت د اړتیا وړ توکو تولید او سوکالۍ راوستل، د ننني نړۍ له ګرمو او محوري موضوعاتو او علمي او اقتصادي پرمختیاوو رامنځته کوونکو عنصرونو څخه ګڼل کیږي؛ بناً غزني پوهنتون په دې برخه کې د «د څېړنیز سیستم پیاوړتیا او د مسائلو علمي حل» او «د خلاقیت او نوښت د بنسټونو ځواکمنتیا او ترویج»

ستراتیژیانو پلي کولو له لارې خپلې «د علمي څېړنو پرمختیا او د نوښت ودې لپاره زمینه برابرول» موخې ته رسېدل غواړي.

**کړنلاره:**

- د ولایت، هېواد او د امکان تر پولو په نړیواله کچه د څېړنیزو اړیکو پراخول.
- د استادانو او محصلینو د څېړنیزو ظرفیتونو اوچتوالي لپاره د بېلا بېلو پروګرامونو په لاره اچول.
- د علمي- څېړنیزو مقالو او څېړنیزو او تألیفي آثارو بشپړول او خپرول.
- د پوهنتون او هېواد په کچه د علمي – څېړنیزو سیمینارونو په لاره اچول.
- د څېړنیزو چارو ارزونه او له مخې یې د غوره څېړونکو مادي او معنوي هڅونه.
- د علمي کادر غړو او محصلینو لپاره د خلاقیت او نوښت زده کړې د پروګرامونو تطبیق.
- د نوښت پالونکو تولیدي بنسټونو سره د تفاهیم لیکونو لاسلیک له لارې د خپلو استادانو او محصلینو د خلاقیت او نوښت د وړتیاوو پیاوړي کول.
- د خلاقیت او نوښت د پرمختګ لپاره د ځانګړو طرحو جوړول او د عملي کولو لپاره یې له مختلفو اړخونو سره ګډ کار کول.

دا چې روڼتیا او له فساد سره مبارزه تر هر څه وړاندې د بشریت او په ځانګړې توګه اسلامي ټولنو یوه بنسټیزه اړتیا او غوښتنه ګڼل کېږي او په دې برخه کې په فعال ګډون سره روحي سکون او کلتوري غنی رامنځته کېږي؛ بناً غزني پوهنتون په دې برخه کې د «د غوره حکومتولۍ او رښې رهبرۍ او مدیریت استقرار» ستراتیژۍ پلي کولو له لارې خپلې «د ادارې او رهبرۍ د اغېزمنتیا زیاتول او په سیستماتیکه توګه د فساد بشپړه محوه» موخې ته رسېدل غواړي.

**کړنلاره:**

- د یو منظم پلان له مخې د اداري فساد څارنه او د له منځه وړلو لپاره یې د خبراوي پروګرامونو تطبیق او د انضباطي ګامونو اوچتول.
- د هرې ربعې او کال په پای کې د مسئولیتونو د حساب ورکړه.
- د پوهنتون د منسوبینو له ظرفیتونو څخه د اعظمي ګټې لپاره د یوې ځانګړې طرحې ترتیب او تطبیق.
- د یو منظم او معقول پلان له مخې د ذیعلاقه ډلو سره نږدې پاتې کېدل او د هغوی د مادي او معنوي مرستو جلبول.

په نړۍ کې معمول دا دی چې د وړاندې کېدونکو محصولاتو په کیفیت او تولید کې باید د یادو محصولاتو د ترلاسه کوونکو نظریات او وړاندیزونه او تر څنګ یې د نړۍ پرمختګونه او نوښتونه په پام کې ونیول شي، ترڅو مقابل لوري ته یې مطلوبیت زیات او د وړاندې کولو ارزښت یې اوچت کړل شي؛ بناً غزني پوهنتون په دې برخه کې د «د ټولنې او بازار د غوښتنو مطابق تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کول» ستراتیژۍ پلي کولو له لارې خپلې «د نصاب بیاکتنه او د پرمختیا لپاره یې د مقدماتو برابرول» موخې ته رسېدل غواړي.

**کړنلاره:**

- د ټولنې د اړتیاوو او توقعاتو ارزونه او تحلیل، د تحصیلی نصاب انکشاف او تطبیق.
- د پوهنتون د صلاحیت په اړانه کې د تحصیلي نصاب د نوي کولو د پړاوونی طی کول او له لوړو زده کړو وزارت سره شریکول.
- د پایلو پر بنسټ او شاګرد محوری میتودولوژی منظم او سیستماتیک تطبیق.
- د یو منظم پلان له مخې له درسي مفرداتو سره د تدریس شوو موضوعاتو پرتله کول.

د کیفیت لوړاوی او پالنه د هر هېواد، اداري او وګړي شعار او د عمل معیار ګڼل کېږي. د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت هم یاده موضوع په خپلو لومړیتوبونو کې نیولې ده او غواړي په ملي، فراملي او نړیواله کچه د منل شوو معیارونو مطابق تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کولو له لارې د سیالۍ ګرم میدان ته د ننه شي. دوی دا سیالۍ د هېواد د ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ ګرمه ساتي ترڅو د تحصیلي چوپړتیاوو کیفیت لوړ او له دې لارې مسلکي کارځواکونه ټولنې ته وړاندې کړي. غزني پوهنتون هم خپل ځان په دې برخه کې مسئول ګڼي؛ بناً په دې برخه کې د «د کیفیت د کچې اوچتول او ساتل» ستراتیژۍ پلي کولو له لارې خپلې «د کیفیت د کچې اوچتول» موخې ته رسېدل غواړي.

**کړنلاره:**

- د پوهنتون ټولو منسوبینو ته د کیفیت لوړاوي د ټولو معیارونو بشپړه توضېح.
- د منظمو پلانونو د ترتیب او تطبیق له لارې په ټولو کړنو کې د کیفیت د معیارونو په پام کې نیول.
- د کال په پای کې د پوهنتون په کچه ترسره کړې کړنې ارزول او علمي شورا ته یې د راپور ورکړه.
- د کیفیت لوړاوي د معیارونو د ۱۰۰٪ تطبیق څخه د لوړو زده کړو وزارت ته د ډاډ ورکړه.

له شک پرته چې د پوهې د لمنې په خورېدو سره د ناپوهۍ تیارې له منځه ځي. په همدې پار، په نړیواله کچه کوښښونه روان دي ترڅو د زده کړو پروسه ساده او د زده کړو د بنسټونو او زده کړو د مینوالو تر منځ واټن له منځه یوسي. د برښنایي زده کړو موضوع، د یادې موضوع یوه ښه بېلګه کېدای شي. غزني پوهنتون هم غواړي د ټولو هېوادوالو کورونو ته د لوړو زده کړو څراغونه ور وړي؛ بناً یاد پوهنتون په دې برخه کې د «د اغېزمنو برښنایي-تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کول» ستراتیژۍ پلي کولو له لارې خپلې «د برښنایي زده کړو سیستم ځواکمنتیا» موخې ته رسېدل غواړي.

**کړنلاره:**

- د برښنایي زده کړو د شته سیستم پرمختیا، تطبیق او څارنه.
- د برښنایي زده کړو اغېزمنتیا ثابتول او په اړه یې د ذهنونو روښانه کول.

د چارو ترسره کول او پر مټ یې د ټاکل شوو موخو ترلاسه کول، تر هر څه د مخه د بسیا بېخ بنسټونو شتون ته اړتیا لري، ترڅو د چارو ترسره کول آسانه او د ټاکل شوو موخو ترلاسه کولو لپاره یو بستر مهیا کړي. غزني پوهنتون هم ټېنګ هوډ لري چې د خپلو ستراتیژیکو موخو ترلاسه کولو لپاره اړونده بېخ بنسټونه ورغوي؛ بناً یاد پوهنتون په دې برخه کې د «د تحصیلي چوپړتیاوو وړاندې کولو لپاره د ټولو آسانتیاوو او امکاناتو برابرول» ستراتیژۍ پلي کولو له لارې خپلې «د بېخ بنسټونو (زېربناوو) او سرچینو وده او پرمختیا» موخې ته رسېدل غواړي.

کړنلاره:

- د عملي او معقولو مالي پلانونو جوړولو له لارې د زیاتې اندازې بودجې او امکاناتو ترلاسه کول.
- د نویو پوهنځیو او واحدونو لپاره د تعمیرونو جوړول او تجهیزول.
- د یو منظم او معقول پلان له مخې د شنې ساحې، سړکونو، لوبغالو او رهایشي بلاکونو جوړول.
- د پوهنتون د اړتیا وړ تجهیزاتو او وسایلو پېرودنه او توزیع.

د موخه لرونکو کړنو ترسراوی او له لارې یې د ټاکل شوو موخو ترلاسه کول، تر هر څه زیات وړ او مسلکي بشري ځواکونو ته اړتیا لري. د بشري ځواکونو پوهه او مهارتونه هم د چاپېریال د تغیراتو تر څنګ لاندې راځي او په تدریجي او کله نا کله هم آني توګه له ننګونو سره مخ کېږي؛ بناً اړتیا لیدل کېږي چې د بشري ځواکونو روزنې ته د لګښت نه، بلکې پانګه اچونې په سترګه وکتل شي. غزني پوهنتون هم د لوړو زده کړو وزارت د همدې موخې د تحقق په پار په خپله برخه کې لاس تر زنې کېښنستل نه خوښوي، بلکې غواړي په دې برخه کې کافي لاسته راوړنې ولري، بناً یاد پوهنتون په دې برخه کې د «د بشري سرچینو د استعدادونو د پرمختیا لپاره زمینه برابرول» ستراتیژۍ پلي کولو له لارې خپلې «د ظرفیتونو وده او پرمختیا» موخې ته رسېدل غواړي.

کړنلاره:

- د پوهنتون استادان او کارمندان د ماسترۍ او دوکتورا زده کړو ته استول.
- د پوهنتون د منسوبینو لپاره د مهارتونو د اوچتوالي بېلا بېلو لنډمهاله پروګرامونو تطبیق.
- په منظمه توګه د استادانو د علمي ترفېعاتو د پروسې د پړاوونو طی کول.

ننی نړۍ، خپله نړیواله لمنه راټوله کړې او د یو کلي په بڼه یې نړیوالو ته لمنه غوړولې ده. ناشونې ده چې په دې نړیوال کلي کې له اړیکو پاللو پرته ژوند وکړل شي. غزني پوهنتون هم د خپلو ټاکل شوو ستراتیژیکو موخو ترلاسه کولو لپاره له دیدخلو اړخونو سره، د ټولو اړخونو د سپېڅلو او مشروع ګټو خوندیتوب په شرط سره د اړیکو رامنځته کولو او پراختیا ټینګ هوډ لري او په دې برخه کې د «د اړیکو د یو اغېزمن سیستم پلي کول او پیاوړتیا» ستراتیژۍ پلي کولو له لارې د خپلې «د اړیکو مؤثریت او پراختیا» موخې ترلاسه کول غواړي.

کړنلاره:

- له کورنیو او بهرنیو اړخونو سره د «ګټې- ګټې» ستراتیژۍ له مخې د رسمي او غیر رسمي اړیکو عیارول.
- د مادي او معنوي مرستو د جلب لپاره د معقولو هوکړه لیکونو لاسلیکول او تطبیق.

د نړۍ نفوس د زیاتېدو په حال کې دی، نو په کار ده چې دې زیاتېدونکي نفوس ته د زده کړو لمنه پراخه کړل شي، ترڅو هر څوک د عدالت د غوښتنو مطابق تحصیلي چوپړتیاوو ته لاسرسی ولري. که چېرې د نفوسو د زیاتېدو سره سم د علمي بنسټونو د علمي چوپړتیاوو وړاندې کولو په ظرفیتونو کې اوچتوالی را نه وستل شي، نو حتمي ده چې یوه لویه کتله وګړي به د زده کړو له حق څخه بې برخې کېږي. په همدې پار، غزني پوهنتون هم غواړي د لوړو زده کړو ګڼ شمېر مینوالو ته په خپله لمنه کې ځای ورکړي؛ بناً یاد پوهنتون په دې برخه کې د «لوړو زده کړو ته د عادلانه لاسرسي د پراختیا لپاره زمینه برابرول» ستراتیژۍ پلي کولو له لارې خپلې «د استعدادونو د ودې

او پرمختیا په پار د معیاري خدماتو وړاندې کول او لوړو زده کړو ته د عادلانه لاسرسي لپاره زمینه برابرول» موخې ته رسېدل غواړي.

**کړنلاره:**

- د کادري او اداري برخې لپاره د نویو بستونو ترلاسه کول او د ګمارنې د پروسې بشپړتیا.
- د نویو پوهنځیو، څانګو او برنامو د جواز اخیستل او د فعالیت پیل او دوام.
- د محصلینو په جذب کې زیاتوالی راوستل.
- د محصلینو د مهارتونو او تجربو د زیاتوالي لپاره د ځانګړو پروګرامونو تطبیق.

**د ستراتیژیانو عملي کول**

کله چې د ستراتیژیانو د تطبیق او عملي کولو لپاره زمینه برابره او کړنلارې مشخصې شوې، ورپسې جوخت به له کوم ځنډ څخه پرته په خپل ټول توان او شرایطو ته په کتو سره د ستراتیژیانو عملي کول پیلېږي، ترڅو پر مټ یې ټاکل شوې موخې ترلاسه او د پوهنتون، لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې هېواد د بودجې لګښت د مشخصو او مهمو پایلو ترلاسه کېدو جوګه وګرځي. په دې برخه کې غزني پوهنتون لاندې چارې ترسره کول غواړي:

۱) د پنځو کلونو په جریان کې د ستراتیژیو د پلي کولو نقشه: د دې چارې ترسره کولو لپاره غزني پوهنتون پنځه پنځه کلن عملیاتي پلانونه ترتیب کړي او د دې ستراتیژیک سره مل دي.

۲) د بودجې تدوین او د اړونده سرچینو تخصیص: په دې برخه کې غزني پوهنتون پنځه کلن مالي پلان ترتیب کړی دی او د دې ستراتیژیک پلان سره مل دی.

هېره د نه وي چې په دې برخه کې پوهنتون هوډ لري او په لزوم یې باور لري چې باید د پوهنتون د ستراتیژیانو په پلي کولو کې د پوهنتون له ټولو سرچینو څخه اعظمي ګټه پورته شي او هر څوک باید په خپله برخه کې د خپل توان او ور سپارل شوي مسئولیت په اندازه او حتی هېوادنۍ مینې او هېوادوالو ته د خدمت کولو په ویاړ فعال ګډون ولري او د شرایطو او چاپېریال په بدلون کې خپلې اصلي او سپېڅلې موخې ورکې نه کړي، بلکې شرایطو ته په رڼو سترګو کتو سره د خپلو ټاکل شوو موخو ترلاسه کولو لاره او مسیر تعقیب، له خنډونو پاک او کله نا کله هم له خنډونو سره مبارزې له لارې یرغلیز خوځښتونه ترسره کړي.

**په کورنیو کړنلارو او پالیسیو کې بدلون راوستل**

دا چې د چاپېریال بدلون او په ادارو یې اغېزې یو څرګند حقیقت دی، نو د دې لپاره چې د تغیراتو اغېزې مو مدیریت کړې وي او له دې لارې مو خپلې ستراتیژیکې موخې ترلاسه کړې وي، غزني پوهنتون هوډ لري چې د شرایطو او چاپېریال د بدلون او یاد بدلون د اغېزو د اغېزمن مدیریت لپاره په خپلو کورنیو کړنلارو او پالیسیو کې داسې تغیرات او بدلونونه راولي، چې له مخې یې پوهنتون په مطلوبه لوري (د موخو په مسیر) سوق کړل شي. په دې برخه کې به کوښښ کېږي په کورنیو کړنلارو او پالیسیو کې تغیرات فعالانه بڼه ولري؛ یعنې د اغېزو تر خورېدو د مخه په کورنیو کړنلارو او پالیسیو کې د بدلون راوستلو له لارې د کړنو نوي تطبیق ته لاره هواره او زمینه برابره کړل شي.

په ټوله کې ویلای شو چې، غزني پوهنتون په پام کې لري چې د تغیراتو د اغېزمن مدیریت له لارې له منجمد حالت څخه بهر او د کورنیو کړنلارو او پالیسیو د اغېزمن تغیر له لارې د ټاکل شوو کړنو ترسره کوونکو او ټاکل شوو موخو ترلاسه کوونکو لپاره د لارې روښانوونکو څراغونونو رڼاګانې بلې وساتي؛ ترڅو په بشپړه توګه پېچلي او بدلېدونکې چاپېریال کې د خپلو ټاکل شوو موخو د تحقق وړتیا له لاسه ور نه کړي.

## د ستراتیژۍ ارزونه

د دې لپاره چې د واقعي او متوقعه پایلو تر منځ واټن صفر/ تر ټولو کمې اندازې ته ورسېږي، نو په کار ده چې د ستراتیژیک پلان له تطبیق څخه ارزونه وشي. غزني پوهنتون په پام کې لري د ستراتیژیک پلان عمومي کمېټې له لوري د هر کال په وروستي ربع کې د یادې ارزونې ترسره کولو لپاره په لاندې توګه اغېزمن ګامونه پورته کړي:

۱) د ستراتیژیک پلان عمومي کمېټې له لوري د هر کال لپاره ترتیب کېدونکي عملیاتي پلان په چوکاټ کې د ستراتیژیک پلان د تطبیق نظارت څرنګوالی ځای پر ځای کول.

۲) د ستراتیژیک پلان د تطبیق د ارزونې لپاره د معیارونو ترتیب، تائید او له مختلفو برخو سره شریکول.

۳) د پوهنتون له علمي شورا او رهبرۍ سره د ستراتیژیک پلان د تطبیق د ارزونې راپور شریکول او د اصلاحي سپارښتنو ترلاسه کول او شریکول.

۴) د پوهنتون په کچه ټولو لویو، منځنیو او کوچنیو واحدونو څخه په سیده/ ناسیده توګه د ستراتیژیک پلان د تطبیق د څرنګوالي راپور ترلاسه کول.

۵) د پوهنځیو او ډیپارټمنټونو د ستراتیژیکو پلانونو د تطبیق څارنه او د اصلاحي اقداماتو ښودنه.

۶) د ستراتیژیک پلان د تطبیق پر وړاندې د شته خنډونو پېژندنه او د پوهنتون له رهبرۍ سره یې شریکول.

د غزني پوهنتون د ستراتیژیک پلان د تطبیق د ارزونې لپاره له لاندې فارمټ څخه ګټه پورته کیږي:

(۲۶) جدول: د ستراتیژیک پلان د تطبیق څرنګوالي د ارزونې فارمټ

| ګڼه | ستراتیژي | موخه | عمده کړنې | د پلي کیدو وخت | د پلان مطابق د کال د ربعو په جریان کې د تطبیق سلنه | | | | د پلي کولو مسئول | د نه پلي کیدو دلایل | پیشنهادي حل لارې | ممکنه ژمنتیاوې | اصلاحي ګامونه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | | | | | | |
| ۱ | | | | | | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | | | | | | | |

ومن الله التوفیق

پای